

# د ستړي ژوند
# ساندې او سندرې

فیروز خان اپریدے

Scanned by CamScanner



بې حده محترم، عزت مند، د پښتو ژبې، پښتون قام، پښتو ادب بې لوثه، بې لالچه او بې بدله د اخلاص نه ډک د ویښ او لوئې احساس څښتن جناب فیروز افرید ے چې زهٔ کله وینم نو زړهٔ مې ډېر خوشحال شي او راکښې حوصله او جذبه زیاته شي. مونږ که وګورو نو نن وخت د پښتو ژبې د پرمختګ دپاره په مخلصه جذبه د کار کوونکو ډېر کمے دے خو که مونږ د فیروز آفریدي فن، شخصیت، ژوند، شاعرۍ او ادبي خدمتونو ته وګورو نو نن سبا چې دا څومره پښتو ژبه درنېږي او منلے کېږي دا د فیروز آفریدي غوندې د بې لوثه خدمتګارو کمال او مثال دے. فیروز آفرید ے تر خپل وسه د هر مخلص، مفلس او ایماندار و امانت دار شاعر، لیکوال، ادیب، فنکار، هنرمند، دانشور، څېړنکار، محقق، مؤرخ او نقاد حوصله افزائي او مرسته ملګرتیا دپاره هر وخت تیار دے. دا ئې د پښتو ژبې او پښتو ادب او پښتنو سره د بې کچه عقیدت ثبوت دے. د شاعرۍ دا مجموعه د ستړي ژوند ساندې او سندرې ئې لکه د نوموړو انقلابي متحرکو او مخلصو شاعرانو د عقل او فکر ترجماني کوي چې زهٔ ورته بې حده داد ورکوم.

مراد علي مراد

Scanned by CamScanner

ټول حقوق محفوظ دي

---

د کتاب نوم ——— د ستړي ژوند ساندې او سندرې
شاعر ——— فیروز خان اپریدے
کمپوزر ——— آدم خان (پښتو څانګه پېښور پوهنتون)
خواري او
پروف ریډنګ ——— مراد علي مراد

عامر پرنټ اینډ پبلشرز پېښور
aamirprint2010@gmail.com
0300-9019499

شمېر ——— ۵۰۰
بیعه ——— ۱۵۰ روپۍ
کال ——— اپریل ۲۰۱۲ء
خوروونکي ——— ښکلے پېښور مجله پېښور
درک:

کینال لین سپینه وړۍ پېښور
ټیلیفون: 0300-9008009, 03377177221
دتر لاسه کېدو درک:

- مراد علي مراد 0345-9133446, 03339281988
- یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور
- پښتو اکېډمي کتابتون پېښور یونیورسټي

Scanned by CamScanner

# تړون

د خواري کښ شاعر و ادیب
مراد علي مراد په نوم
څوک چې ډېر په محدودو وسائیلو
کښې د خپل ژوند ګاډے روان
ساتلے دے او د پښتو ژبې او ادب
لمن ئې ټینګه نیولې ده

Scanned by CamScanner

# سوغات

د فاټا د جنګ زپلي اولس په نوم

# پېرزوئينه

زما کور وداني چا چې زما د فن حوصله افزائي خو نهٔ ده کړې خو بيا ئې هم زما سره ډېر بد او سپېرهٔ وختونه په ډېر زغم او قناعت سره اړولي دي

# مننې شکريې

د اغلا نورالعين عيني، محترم تاج رحيم، محترم ډاکټر همايون هما ، ښاغلي لائق زاده لائق، ښاغلي رحيم شاه، ښاغلي ماسټر رحيم ګل، ښاغلي علي بابا ، سنګين آپريدي، ښاغلي نياز خان او نياز محمد مهمند

Scanned by CamScanner

# سریزه

نهٔ خو په سریزو څوک ستړي کول غواړم او نهٔ د مروت په تورو ټکو د خپلې شاعرۍ ستائنې لیدل لوستل غواړم. شاعري زما جُز وختي مشغولا ده. زما نه کشرانو ملګرو دوه دوه، درې درې بلکې ګڼ شمېر کتابونه چاپ کړل خو حقه خبره دا ده چې ما کله هم خپل ځان په دې مطمئین نهٔ کړے شو چې زما شاعري به هم د چاپ جوګه وي.

هم دا وجه وه چې شاعرۍ ته مې په سنجیده نظر نهٔ دي کتلي. شاعري مې ورکه شوې هم ده او په مختلفو وېب پاڼو کښې چې کوم خوندي شوې بېلګې زما د قطر د سفر ملګري د یوې باشعورې، باتورې، سخنورې بچۍ اغلا نورالعېن عېنې په زیار لاس ته راغلې. هم هغه ستاسو په وړاندې پېش کوم.

ما به دا هم چاپ ته نهٔ وو راوړي که چرې هغه کشرانو څوک چې ما له په پښتونخوا کښې زما د پښتو ژبې او ادب د بې لوثه خدماتو په څِله کښې کوم قدر و احترام راکوي په بار بار پوښتنو چې صېبه ستاسو د شاعرۍ کوم کتاب چاپ دے؟ یا کوم کتاب مو چاپ ته تیار دے؟ زهٔ د هغوي د مینې او احترام په بدل کښې دغه

شاعري چاپوؤم. د دې نه وړاندې مې د نثر يوه بېلګه "د وطن په ګلدرو کښې" په نوم چاپ ده. بنيادي طور زۀ د نثر خوښونکے يم او د نثر کافي مواد راسره جمع دے. ډېر رانه په وېب پاڼو کښې ضائع شوې هم دے. خو چې کوم مضامين، تکلونه، کالمونه او يو څو افسانې په ګوتو راغلې دي د هغوي سره چې لږ ډېر مواد نور ورزيات کړم نو انشاء الله چې درې څلور نثري کتابونه به ترې جوړ شي.

دغه کتاب ما د پښتو ژبې يو داسې ملنګ ته منسوب کړو چې په ډېر لږ معاش خپل د ژوند ګزران کوي. د هغۀ په سترګو کښې د روښانه صباؤن يوه رڼا ښکاري. هغه د خپلې مورنۍ ژبې لمن نيولې ده. او په هر صورت کښې د ژبې او ادب خدمت ته چمتو دے.

زما شاعري څنګه ده؟ زۀ د هيڅ قسمه خوش فهمۍ ښکار نۀ يم. البته په يو څيز مې پوخ ايمان دے چې د ژبې او ادب دپاره ما هم لکه د مراد علي مراد بې لوثه او بې لالچه خدمت کړے دے. او په پردي وطن قطر کښې مې درې دېرش کاله د ادب د باغ ماليارې کړې ده. د کومې صِله او مېوه چې زۀ د خپلو کشرانو او همزولو هغه احترام او عزت ګڼم چې ماته ئې وخت په وخت راکړے دے.

په اخر کښې زۀ د خپلې پښتو ادبي ټولنې قطر ټولو ملګرو، ادبي او سماجي دوستانو شکريه ادا کوم د چا په صحبت کښې چې زما د ژوند ورځې شپې خوندورې تېرې شوې دي. د نورالعين عينې شکريه ادا کوم چې زما خوارۀ وارۀ ليکونه ئې د مختلفو وېب سائټونو نه راغونډ کړل او ماته ئې په فولډر کښې راولېږل. د مراد



Scanned by CamScanner

علي مراد هم شکر ګزار یم چې دا ټول شعرونه، غزلې، نظمونه، قطعات ئې په یوه کاپۍ کښې راټه خوندي کړل او د چاپ تر مرحلو ئې راته لاره اسانه کړه.

زۀ د خپلو وروڼو، ورارونو، ملګرو په خاصه توګه حاجي ابراهیم خان اپریدي، جانس خان اپریدي، میر عالم خان اپریدي، ګل محمد خان اپریدي او د ملګرو حاجي شېر اکبر خلیل، دلاور خان وقار، نسیم خان نسیم او عارف الله اظهر صاحبانو مننه او شکریه ادا کوم چې زما د ادبي سفر ملګري دي او وخت په وخت ئې زما ډاډګیرنه او مرسته کړې ده.

په درناوي

فېروز خان اپریدے

# ژوند لیک

نوم: فېرز خان اپریدے

پلار نوم: حاجي لعل خان اپریدے

قبیله: تپه غېبي خېل کندي پیرو خېل سپاء اپریدے

ابائي وطن: تیراه سندا پل.

مېشت: لعل خان کلے کجهوری سپین قبر باړه خېبر ایجنسي

حال: سپینه وړی پېښور

عارضي درک: ص ب ۱۵۵۷۰ دوحه قطر

تعلیم: تر څوارلسم پورې

ملازمت: دولة قطر تجارت.

سفر: ۱۹۸۰ افغانستان، ایران

۱۹۸۴ دولة قطر، عرب امارات، سعودي عرب، خلیجي ملکونه.

ادبي ذمه واری: پاک پښتو ادبي ټولنه قطر غړي

۱۹۹۲ جنرل سېکرټري

۱۹۹۴ صدر پاک پښتو ادبي ټولنه دوحه قطر

سرپرست: ۲۰۰۸ء تا حال پاک پښتو ادبي ټولنه دوحه قطر

سماجي ذمه واری:

نائب صدر پاک یوتهـ سوسائټي قطر ۱۹۸۸ – ۲۰۰۸

سياسي ذمه واري: جنرل سېکرټري پاکستان ويلفيئر ليګ
۱۹۹۰ – ۲۰۰۸

فلاحي ذمه واري:

- ورلډ پښتو فاؤنډېشن (سائبر ګروپ) ۲۰۰۲ – ۲۰۰۴
- صدر ورلډ پښتو فاؤنډېشن (سائبر ګروپ) ۲۰۰۴ – ۲۰۰۸

مجلې:

- دستار انټرنېشنل درې مياشتيزه ډائرېکټر ۲۰۰۵-۲۰۰۸
- پېښور انټرنېشنل مجله چيف ايډيټر ۲۰۰۹-۲۰۱۵
- ښکلے پېښور مجله چيف ايډيټر (جاري)
- صدر پېښور پښتو ادبي جرګه پېښور ۲۰۰۹-۲۰۱۵

تعليمي ذمه واري:

- ممبر بورډ آف ګورنر: پاکستان ايجوکېشن سنټر دوحه قطر ۱۹۹۸ – ۲۰۰۰
- ممبر بورډ آف ګورنر (دوېم ځل) پاکستان ايجوکېشن سنټر دوحه قطر ۲۰۱۰ – ۲۰۱۲
- ممبر اباسين ارټس کونسل پشاور ۲۰۱۲ تا حال



Scanned by CamScanner

ادبي اعزازات:

- اباسين آرټس کونسل
- د ادبي خدماتو په صله کښې توصيفي شيلډ ۲۰۰۷ نشتر هال
- د قمر راهي ادبي مکتب مردان له اړخه په ادبي خدماتو توصيفي سند
- اجمل خټک خصوصي ادبي اېوارډ ۲۰۱۰ء
- حمزه فاؤنډېشن سماجي خبر ښېګړې په خدماتو په ګورنر هاؤس کښې د بېګم ګورنر په لاس اېوارډ
- د مهريه مجلې مردان له اړخه مهريه ادبي اېوارډ ۲۰۰۵
- د ټرينډ اېډورټائيز اېجنسي له اړخه په سماجي خدماتو سټار اېوارډ ۲۰۰۷
- اجمل خټک ادبي اېوارډ په ادبي خدماتو ۲۰۱۲
- لائف ټائمز اچويمنټ حسن کارکردګي اېوارډ
- هفت روزه اواز خيبر کوهاټ - ګوجرانواله
- محکمه ثقافت پښتونخوا له اړخه ثقافت کے زنده امين ادبي اېوارډ

ادبي مرکې:

- ريډيو قطر اردو سروس
- ريډيو ايشياء پشتو سروس دبۍ



Scanned by CamScanner

- اشنا راډیو وائس آف امریکه
- ډیوه ریډیو وائس آف امریکه
- ریډیو خیبر
- ریډیو پاکستان پشاور
- ریډیو پاکستان کوهاټ
- خیبر ټیلي ویژن
- جیو ټي وي
- پي ټي وي
- ډان نیوز ګروپ
- فرنټیئر پوسټ
- روزنامه بشارت پشاور
- رزنامه وحدت
- اورسیز انټرنېشنل مجله اسلام آباد

کالمونه:

- روزنامه وحدت
- دستار انټرنېشنل
- ښکلی پېښور
- چغه
- روزنامه آج او ګڼ شمېر ویب پاڼې

# دعا
## ربه شکر

هر څۀ دې راکړل ډېر څۀ دې راکړل
لږ وو که ډېر وو ډېر ښۀ دې راکړل
شکر په هر حال باید چې وشي
که څۀ دې راکړل که نۀ دې راکړل
که دې راکړي لوئې دې نعمت دے
که دې رانۀ کړل پکښې حکمت دے
که دې اخستي پس له ورکړنې
د ستا ازمېښت دے زما قسمت دے
په هر يو حال کښې شکرګزار يم
ربه عظيمه ستا طلبګار يم
تۀ مې الله ئې زۀ دې بنده يم
بخښنه غواړم چې خطاکار يم

❀❀



Scanned by CamScanner

❁❁

ځوک مسافر مهٔ کړې خپل کور کلي پرې وران مهٔ کړې
عظيمه خدايه تهٔ بل ځوک زما په شان مهٔ کړې

ما د ژوندون لمحې په ځومره لوئې قيمت اخستي
ځوک د سفر سودا کښې ما غوندې ارزان مهٔ کړې

په ډېرو وينو شهيدانو ئې وطن ګټلې
نور د افغان کور د غليم د لاسه وران مهٔ کړې

مونږ د خپل عشق په خاطر بيا سره يو ځائې کړې ربه
زهٔ د جانان او نور جانان زما ارمان مهٔ کړې

خدايه چې ځوک هم د پښتون په کور کښې شر جوړوي
دا مې ښېره ده چې ئې خپل کورګي ودان مهٔ کړې

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

ځار شم له عشقه چې په یو ناتار ئې غر وهلے
ځومره بزدله ؤ فرهاد چې ئې خپل سر وهلے

ځار د هغه زلمي د نېکو مقصدونو شمه
چې په چړو ئې د خپل خوږ ژوندون ځیګر وهلے

لا بلد نه ئُیو د رقیبو هواکانو سره
مونږه د عشق د جالې نوے نوے پر وهلے

سر مو نیولے وروي دې د هر خوا نه کانړي
په سپینه ورځ مو غمازانو ته تبر وهلے

کوم غل فیروزه د وطن په غلا کښې ونیسمه
د قوم رهبر د خپل ملت د کور کندر وهلے

❀❀



Scanned by CamScanner

❁❁

لاره بنده مخکښې نه کېږي سفر نور
او په شا ته د تلو هم نشته گزر نور

د صحرا ستړے مزل دے رالنډېږي
راته مخې ته ويړ پروت دے سمندر نور

د تيارو زېلي دومره دي بې دمه
خبر نۀ شول په ختلو د سحر نور

زۀ به څۀ گواښ د عبرت ورکوم بل ته
چې عبرت د زمانې يم په خپل سر نور

هر سړے کړي نصيحت بل ته فيروزه
هر سړے دے لمبېدلے په کوثر نور

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

لکه باز د غرۀ په سر ګرځي بې باکه
داسې عزم او انداز لرم خپلواکه

تور او سپين پکښې له ورايه ښکاره کېږي
د خاطر شيشه مې تل ساتلې پاکه

انسانانو خود اور جامې اغوستې
شيطانان دي چې زېږېږي د دې خاکه

فرښتې د امن تللي له دې ځايه
د عذاب کاڼي ورېږي له افلاکه

د ظاهر په تهمتونو هم داغداره
د باطن په چيغو هم ګرځم کاواکه

❀❀



Scanned by CamScanner

❁❁

د زمانې په کور د علم هنر ور نه وینم
ځکه په بندو د هوالونو کښې خپل در نه وینم

په خوب او خیال کښې مې مقام د بام په سر لیدلے
په حقیقت کښې د خپل تن د پاسه سر نه وینم

څومره ده لنډه حوصله او کم ظرفي د نفس چې
د بل ډیرې پیسې د خپلې کمې غر نه وینم

زما همت ته د غفلت نشه هوس ور کړې
د بې خودۍ تیارو کښې زهرے د سحر نه وینم

څه نابلده د وختونو موج په مخه یوړم
فېروزه ځکه د خلاصې څه رو ګودر نه وینم

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

جوړې د زړۀ په کنډاوونو مې لوځړې نۀ کړې
ګرانه د عشق د کلي ورانې مې جونګړې نۀ کړې

که هر څو ډېر لرې ئې ډېر دربانديې زۀ ډاډه يم
چرته د ډاډ دا شيش محل مې دړې وړې نۀ کړې

نن به رقيب ته ستا په کسو کښې خپل ځان ښايمه
نن آئينې چې د انکار په دوړو خړې نۀ کړې

مونږه تکل د پاکې مينې د مزل کړے دے
نفسه په لار چې د هوس جوړې چقړې نۀ کړې



Scanned by CamScanner

مونږه د عشق د جالې نوې نوې پر وهلې
باده وړې وړې وزرې مې پرخرې نۀ کړې

پرېږده همزاده چې د خپلې مينې حق وغواړې
لېونے زړۀ چې مې د پند په پيتهي سترې نۀ کړې

خپلې دې هېرې کړه فېروزه چې دې حق ادا شي
هېرې د نورو چې وړې وړې ښبګړې نۀ کړې

❁❁

قطعه

نۀ دې اول ؤ خوند د شعرونو
او نۀ دې بيا شته ژوند د شعرونو

فېروزه هسې ځان دې کړو ستړے
څوک به دې اوري پند د شعرونو

❁❁



Scanned by CamScanner

❁❁

چتي په شان پنجو کښې دا پورته اسمان مۀ نيسه
چرګ په شان وزر ډډ په د ېوال او دالان مۀ نيسه

سوچ فکر احتياط ځان سره مل کړه پسې منډه کړه
لاره کښې د غل په شک شريف د ګرېوان مۀ نيسه

کاڼي د کمال به د هنر په سيند کښې مومې
ستورګې معجزو ته په طرف د اسمان مۀ نيسه

دلته د ژوندون هره لحظه به غنيمت ګڼې
دلته کښې په زړۀ کښې بې بنياده ارمان مۀ نيسه

تۀ د خپل همت په محور وخت ته ګردش ورکړه
ځان خپل په مکان کړه ځه امکان د زمان مۀ نيسه

توان دې زما دل کړو د وحشت د حده تېره شوې
نور خو بې وسې زما شليدلې ګرېوان مۀ نيسه

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

ما وېل تهٔ مې جوړ د خوږ زړګي درمان شوې
تهٔ بې لوظه په خپل لوظ پښېمان شوې

د يار غمه حېران مهٔ شې نوے نهٔ ئې
تهٔ زما د زړهٔ په کور وړوکے ځوان شوې

د اشنا ياده سينې ته مې راجوخت شه
چې بس تهٔ ملګرے پاتې د جانان شوې

چې دې زهٔ او جانان دواړه سره يو کړو
تصوره څومره ښکلے ترجمان شوې

د وطن ګل درې پاتې شوې فېروزه
د سفر دشته کښې ځلے د هجران شوې

❀❀



Scanned by CamScanner

❁❁

نن مې په زړهٔ باندې ورېږي د چا ګل یادونه
د بېلتانهٔ په غم زرې زرې ژوبل یادونه

د وخت مرهم پرې اثر نهٔ کوؤ قلاره نهٔ شول
ځان له یواځې سره ناست وو ژړېدل یادونه

مدام سفر بیا د جانان کلي او کور جدائي
لکه باران په زړهٔ مې ورو ورو ورېدل یادونه

نن د بې رحمه بې وسۍ د ژوندانهٔ په اور کښې
شنهٔ شو لوخړه شو لمبه شو سوزېدل یادونه

نن تړوله شپه ئې فېروز ډېره ښهٔ پالنه وکړه
د زړهٔ په کور کښې مېلمانهٔ وو تلل راتلل یادونه

❁❁

❁❁

ستا يادونه دي او زهٔ يم
بل اورونه دي او زهٔ يم

نور حاجت مې د چا نشته
ستا غمونه دي او زهٔ يم

زړهٔ مې پانې پانې رپي
تند بادونه دي او زهٔ يم

دا مې برخه ازلي ده
تل جنګونه دي او زهٔ يم

نور مې مهٔ زوروه خدايه
تيندکونه دي او زهٔ يم

ما فيروز سره څهٔ نشته
بس سوالونه دي او زهٔ يم

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

تــــــــه لاړې خونـــــــــد لاړو
تـــــا ســـــره ژونـــــــد لاړو

خدايـــــه څـــــه وکړمـــــــه
يــــــار شـــــونډې بنــــــد لاړو

ستـــا پـــه يـــارۍ کـــښې اشـــنا
کچکـــــــول او کنـــــــــد لاړو

دلتـــــه تراخـــــه پـــــاتې شـــــو
دلتـــــــه نـــــــه قنـــــــد لاړو

فيـــــروز تنهـــــا پـــــاتې شـــــو
يــــــار ئـــــې څرګنــــــد لاړو

❀❀



Scanned by CamScanner

❀❀

عقل شعور پوهه هنر نهٔ لري
دستار هغه غواړي چې سر نهٔ لري

نن د هغو خلقو پرواز ته ګوره
چې پر لري وزر د پر نهٔ لري

د لر او بر پښتانهٔ ډېر دي مګر
اختيار د خپل کور او سنګر نهٔ لري

ژوند د پښتون په جنګ مشروط خالقه
دا توره شپه چرته سحر نهٔ لري

دهقان بارود کري سرونه رېبي
د پښتنو خاوره بل کر نهٔ لري

فېروزه دلته تول ړاندهٔ کاڼهٔ دي
دا ستا شعرونه څهٔ اثر نهٔ لري

❀❀



Scanned by CamScanner

❁❁

تـهٔ چـې پکـښې اوسـې زړهٔ بـه ښـهٔ سـاتم
تـهٔ چـې پکـښې نـهٔ ئـې بيـا ئـې نـهٔ سـاتم

زړهٔ مـې دې تـق وچـوي بيـا بـه څـهٔ كـووم
سـتا دپـاره يـاره خيـال د زړهٔ سـاتم

ستا د ښكلي مخ نقش مې په زړهٔ كښې دے
خيـال كـښې دې كجـل كجـل ليمـهٔ سـاتم

عمـر ؤ چـې سـتا پـه غـم كـښې تېـر شـولو
نـور بـه څـهٔ ارمـان د ژوندانـهٔ سـاتم

تـل د زړهٔ پـه كـور كـښې د فيـروز اوسـې
يـاد او غـم دې دواړه ميلمانـهٔ سـاتم

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

د وختونو په مدار ده زندګي
زمونږ کله په اختيار ده زندګي

زندګي کښې غټ مقصد د بندګۍ دے
بې مقصده هسې بار ده زندګي

په دنيا کښې فلسفه د ژوندون دا ده
چې د څو ورځو په شمار ده زندګي

ورځ په ورځ او شپه په شپه کښې حسابيږي
د غريب که د مالدار ده زندګي

مونږه يو بل ته فيروزه وبخښله
که زما ده که د يار ده زندګي

❀❀



Scanned by CamScanner

❀❀

يو اقرار به کول غواړي
ښځه اظهار به کول غواړي

که هر څو د وخت قاتې ده
انتظار به کول غواړي

يو احساس لرم په زړه کښې
چې دا کار به کول غواړي

پښتنو په هر يو ځائے کښې
يکه ځار به کول غواړي



Scanned by CamScanner

مینه کار د پتمې نهٔ دے
ښهٔ په جار به کول غواړي

د پښتو ناوې ته ګرانه
ښهٔ سینګار به کول غواړي

د مغل ګرېوان فیروزه
تار په تار به کول غواړي

❁❁

قطعه

د چینې غوندې په رود رود کښې بهېږم
حاسدان مې دغه هم زغملے نهٔ شي

ما په بند کښې به ایسار نهٔ کړي که یو ځل
سمندر شوم بیا به هېڅ کولے نهٔ شي

❁❁



Scanned by CamScanner

❁❁

راشه چې نن وکړو خوږې خبرې
خوند کوي ستا د سپينې خُلې خبرې

نورې خبرې د بل چا څه کوؤم
وړې کوه وړې وړې خبرې

ژبه د خُلې دې وه انکار ؤنه کړې
د پښتنې وي پښتنې خبرې

پوئې شوم چې سوال د مينې نۀ شې کوے
ځکه په خُلۀ دې نۀ راتلې خبرې

ګله انداز دې دلنشين غوندې دے
کله سکوت کله کوې خبرې

ستا د خبرو نه خوند اخلي فېروز
جانانه ولې نۀ کوې خبرې

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

دا غنـدل غنـدل ځـواني دې چرتـه مـۀ شـه د غـم لانــدې
سـتا نغمـه نغمـه وجـود دې الله نکـړي سـاندې سـاندې

تـــا د ځـــان ســـره تړلـــي د مئينـــو زړونـــه داســـې
ژاړي تـا سـره چـې ژاړې خانـدي تـا سـره چـې خانـدې

پـه تـا بـدې کـانې مـۀ شـه زړۀ دې چـرې خفـه مـۀ شـه
سـتا غمونـه دې زمـا شـي سـتا بـلا شـه پـه مـا بانـدې

سـتا ثـاني پـه دنيـا نـشته بلـه داسـې ښـکلې نـشته
چې د سـتا پـه شـان پيـدا کـړي نشته نورې داسـې ميانـدې

فېـروز غـواړي چـې ئـې عمـر شـي حـساب د سـتا پـه عمـر
څوک به څۀ کړي باغ د عمر چې ګل مخې ځي تـرې وړانـدې

❀❀



Scanned by CamScanner

❀❀

دلته چې څۀ کوې ګناه نشته ثواب نشته
څومره سرونه چې وهلې شي حساب نشته

خلق رڼا خوښوي مونږه د تیارو ملګري
زمونږ د برخې په اسمان باندې افتاب نشته

خلق خلاء ته والوتل یاران غارونو کښې پټ
پښتونه ځار دې ستا د دې کمال جواب نشته

نۀ د جزا نه څوک خبر نۀ د حساب او کتاب
د خلقو زړونو کښې څۀ یره د عذاب نشته

فیروزه تش کورونه پاتې شو حجرې ورانې شوې
اوس محفلونه د منګي ستار رباب نشته

❀❀



Scanned by CamScanner

❁❁

په زړهٔ غبار چې وي په خُلهٔ خبرې خوند نهٔ کوي
چې خاطر دروندوي بيا د زړهٔ خبرې خوند نهٔ کوي

کور ته درځمه چې د زړهٔ خبره وکړو سره
ورچنې مړه د کالهٔ خبرې خوند نهٔ کوي

تهٔ چې د ځان خبرې کړې او زهٔ د ځان خبرې
د زهٔ او تهٔ او تهٔ او زهٔ خبرې خوند نهٔ کوي

د سفر ستړي ته يار شمېري د بېلتون پاتې شپې
د وصال شپه او بېلتانهٔ خبرې خوند نهٔ کوي

فېروزه زړهٔ خو هم د يو لالي دپاره بس دے
چې يار مې تهٔ ئې د هغهٔ خبرې خوند نهٔ کوي

❁❁



Scanned by CamScanner

❁❁

د ســــتم بادونــــه راولــــه فلکــــه
مـا د زغـم خېمـه پـه دې مېـدان کـړه لکـه

نـن د ستـا د بـې رخـۍ سره پـه ضـد شـوه
اوښکه راغله په لېمو کښې مې شوه کلکه

لکه کاڼے چې بې ځایه شي نو سپک شي
داسې سپک شوم پښه مې نۀ لګي په زمکه

عاشـقي او يـاراني پـه لـوړو نـۀ شـي
څـو د زيـست د بـلا خېتـه نـۀ وي ډکـه

څۀ نصيب څه په ميراث کښې پاتې نۀ وو
څۀ مې تا څۀ مې دنيا کړه برخه ورکه

د دنيا په مخ به څۀ هغه سړے وي
چې د چا په کور کښې ښځه شي مالکه

زۀ فېروز درسره هسې کلي ژاړم
نۀ مې دلته کورکے شته نۀ کوډکه

❁❁

درې شعرونه

ګل خو ګل وي که د خپل باغ که د بل وي
زار! نو ګل ته به د ګل په نظر ګورې

که د ځان د احتساب پېمانه غواړې
نو خپل ځان ته به د بل په نظر ګورې

که د مينې چاپېرچل غواړې فېروزه
نو هر چا ته به د خپل په نظر ګورې

❁❁



Scanned by CamScanner

❁❁

مونږه هر چا ته پېرزوئنې د زړګي ورکوو
مونږ نازولو ته په نياز کښې زندګي ورکوو

د نفس حاکم ته سلامي چې شوه د ذات بادشاهي
خود به خراج کښې اوس د ګل غوندې ځواني ورکوو

ځان له څۀ نۀ غواړو تل بل ته دعاګانې کوو
په يو کچکول کښې فقيري او بادشاهي ورکوو

مونږ عجيبه غوندې مزاج د مېخوارانو لرو
ځان ته پيالـه کښې نيستي ډوبه کړو مستي ورکوو

فېروزه مونږه د هغو خلقو په ډله کښې يُو
د بل په سر کښې چې تل خپله قرباني ورکوو

❁❁

❀❀

څۀ عجیبه غوندې مزاج لري بل شان شو خلق
ښائي په زمکه رانازل د بل آسمان شو خلق

خوبونه نۀ ویني بې خیاله او بې سره ګرځي
لکه چې روح تر ېنه وتلے وي بتان شو خلق

اوس د هر چا ډار د خپل کور د ماشومانو کېږي
په یو کالۀ کښې د یو بله بدګمان شو خلق

د وخت بدلون به وي د تېرو زمانو په شان خو
په نوي دور کښې د تېر وخت په ارمان شو خلق

نۀ بېړۍ پورې شوه او نۀ چرته کښې نمر نېزه شو
بې کرامته څوک شېخان او څوک پیران شو خلق

زما یقین دے چې به هغه ورځ خالق رضا شي
چرته یو ځلې که فېروزه انسانان شو خلق

❀❀



Scanned by CamScanner

❁❁

ژړه غـــوني او اوتـــره غونـــدې وه
رانــــه لاړه مـــروره غونـــدې وه

لـــږ دســتور د زمــانې تــه خلــق ګــوري
ســــتمګره زوروره غونــــدې وه

په ځوانۍ کښې مې د عشق قيصې ؤنۀ کړې
پـــه تيـــر عمـــر ځـــۀ خبـــره غونـــدې وه

راتــه بيــا وائــي چــې تــۀ پــه څــۀ خبــر ئــې
پـــه خبـــره بـــې خبـــره غونـــدې وه



Scanned by CamScanner

د الفت قیصه په دې باندې خوږه وه
چې شیرینه سخنوره غونډې وه

پټ پټهوني وو د ستورو په انګڼ کښې
سپوږمۍ د هره بازیګره غونډې وه

تخیل مې په خیر خیر شولو فیروزه
په رښتیا هم سحرګره غونډې وه

❁❁

ځلوریزه (اروابناد کبیر ستوري ته عقیدت)

د پښتون په ښې وسې ؤ ژړېدلے
تل په درد د پښتنو ؤ دردېدلے

ستورے هغه د پښتو ادب ښاغلے
چې ثاني ئې بل ځائې مونږ نۀ شو موندلے

❁❁



Scanned by CamScanner

❁❁

ستا د نوم په اخستو کېښې یو سرور دے
ستا د نوره مې زړګي رابښکلے نور دے

اوس په خاورو بادولو کېښې مزه ده
د حمزه د مسلک دغه یو منشور دے

د ګل مخ د نور چینه کېښې لمبېدلے
که په پرخه لمبېدلے د سحور دے

د رومي د زړۀ د عشق جذبه سره وه
شمس تبرېز ئې د تودې جذبې ظهور دے

ستا د مخ د ننداري په انتظار یم
بې قرار زړۀ مې د ستا په غم رنځور دے

نور زما او د رقیب په مېنځ کېښې څۀ دي
د دنیا دا کشمکش پکښې دستور دے

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

چې په ښـه لګمـه ښـه يـم
چـې پـه نـه لګمـه نـه يـم

زه چـې څـه يمـه پـه تـا يـم
چې پـه لر څـه کـښې ډېـر څـه يـم

سـتا پـه سـاه کـښې زمـا سـاه ده
تـه چـې نـه ئـې زه بـه نـه يـم

قناعـت مـې دے مونـدلے
خـوښ پـه داسې ژوندانـه يـم

سـتا دا مهـر چـې پـه مـا وي
سـتا د نـوم سـره بـه زه يـم

چـې د بـل پـه غـم کـښې ژاړي
پـه غـم تـق چـاؤدلے زړه يـم



Scanned by CamScanner

په خطا لاړه به نه ځم
چې په پل د ستا د پلۀ يم

مسافر د كوره تللے
مرور د خپل كالۀ يم

ما رانيسه زما ياره
زۀ فېروز درنه په تلۀ يم

❀❀

درې شعرونه

ستا تېر باسلو له به بيا راځي زړګيه هغه
دا ځل دې بيا لېونے نۀ كړي لېونيه هغه

دا مې لوظ كړے دے چې بيا په دغه لاره نۀ ځم
يو ځل مې پرېږده چې زۀ ووينم سړيه هغه

دا به رښتياوي چې په خُلۀ به هغه هر څۀ وائي
دا هم رښتيا دي چې دروغ وائي خانيه هغه

❀❀

❀❀

برندې سترګې وران کاتهٔ کړي چې ښېرې کړي
جور په ما تاؤدهٔ ساړهٔ کړي چې ښېرې کړي

هیڅ په خوئي د ستمګرې پوهه نهٔ شوم
چې به نور رابانـدې څهٔ کړي چې ښېرې کړي

خدائے بدلې دا ښېرې ئې په دعا کړه
چې دا بد ئې راته ښهٔ کړي چې ښېرې کړي

وي د شوخو معشوقو داسې عادت چې
په زړهٔ ښهٔ او په خُلهٔ نهٔ کړي چې ښېرې کړي

څومره خوند کړي چې غصه کړي او ښېرې کړي
ښکلې چاخه چاخه تلهٔ کړي چې ښېرې کړي

چې رقیب ته دعاګانې کړي فیروزه
ګوزارونه مې په زړهٔ کړي چې ښېرې کړي

❀❀



Scanned by CamScanner

❀❀

زما وطن به کله هم چرې سوکاله نهٔ شي
زما غريب بچے به هېڅ کله خوشحاله نهٔ شي

په خپل وطن کښې سرتيتي چې د مغلو کوي
پښتون به کله هم خبر د خپل کماله نهٔ شي

مانه بدل زما غلام د تېر وختونو اخلي
زما د پلار نيکهٔ سيالي به نوره سياله نهٔ شي

زهٔ چې څهٔ وايمه مرې، مې په خنجر غوڅوي
جانانه غږ به مې تر تا پورې رساله نهٔ شي

لاسونه پورته ځان له خېر د نن آقا نه غواړو
تشه جولۍ به غوړوو چې بې له سواله نهٔ شي

تر هغه وخته به فېروزه پښتون در په در وي
چې د ملت په لاره يو نشي هم خياله نهٔ شي

❀❀



Scanned by CamScanner

❁❁

چا پېره ګورم انسانان راتـه ډېر کم ښکاري
ځوک هم په دې مېدان کښې نۀ وينم چې سم ښکاري

کوم دے د نفس د تزکيې نه راتېر شوے صوفي؟
دلته د هر وګړي سر هوس ته خم ښکاري

خدائے زده په څه ګناه وتلې د جنته يمه
خطا زما به وي خو ډېره د غم ښکاري

يو جدائي بل غمژني بل حېراني ده خوره
د ژوند په هر ډګر زما سترګو کښې نم ښکاري

فېروزه نن د مسلمان چې بد حالت ته ګورم
ما له ژړا راځي له تن مې وتے دم ښکاري

❁❁



Scanned by CamScanner

## د ګل په پاڼو لکه پرخه د سحر يمه زۀ
## د حمزه بابا په طرحه مصرعه

ډېر ستړے ستړے د ژوندون په هر ډګر يمه زۀ
خدايه تر څو به در په در کډې په سر يمه زۀ

زما نصيب چې مې په خپل وطن کښې رزق نۀ ؤ
زما تقدير چې د عمرونو مسافر يمه زۀ

عمر مې کم خو د ښائست استعاره مې ګڼه
د ګل په پاڼو باندې پرخه د سحر يمه زۀ

د غرۀ فطرت لرم مورچل لرم مېدان نۀ لرم
ځکه حالاتو ته ولاړ لکه د غر يمه زۀ

په دې تيارۀ تيارۀ ماحول کښې بلها خلق ورک شول
خو په تيارو کښې راختونکے لکه نمر يمه زۀ

❀❀

❁❁

نهٔ مې خوب چرته ليدلے پاس د ستورو او آسمان دے
نهٔ طلب مې چرته کړے د سپوږمۍ او کهکشان دے

ما نظر دے خپل تړلے ما هر شيز پردے ګڼلے
په دې فکر اندېښنو مې غلے کړے خپل ارمان دے

ما خپل خيال دے رانيولے خپل احساس مې دے وژلے
خپل وجود مې خاورې کړے قتل کړے مې خپل ځان دے

ما ليدلي هيڅ هم نهٔ دي نهٔ مې سترګې غړېدلي
د مستۍ وخت مې تېر شوے د غربت په تور زندان دے

اوس دا هر څهٔ پردي ښکاري د دنيا په مخ فېروزه
چې د عمر کاروان تېر شو پاتې تش خالي مېدان دے

❁❁



Scanned by CamScanner

# زۀ او تۀ

دلتــــه زۀ او تـــــۀ يـــــو دواړه
زر شــــه زر راكــــوه غـــــاړه

بيـــا د مينـــې بـــاران وكـــړه
د زړۀ دشـــــته مـــــې ده شـــاړه

بـــس هـــم زۀ او تـــۀ يُـــو پـــاتې
نـــــشته لاړو خلـــــق واړه

وختــــه څــــۀ ستــم دې وكــړو
ليلـــــى پـــاتې نـــۀ شـــوه لاړه

د عاشـــق پـــه برخـــه څـــۀ وي
كـــور ئـــې وران خونـــه ويجـــاړه

چـــې د يـــار قـــدر دې نـــۀ كـــړو
اوس فيـــــروزه پـــــسې ژاړه

❀❀

❁❁

په صفت دې څوک مکین د پاس آسمان کړو
څوک په نفس دې رابهر دخلد مکان کړو

چې انا او ضد دې مل زما افغان کړو
خدایه پاکه ژوند دې ډېر راته اوس ګران کړو

دا زمونږ د خپله لاسه په مونږ کېږي
چې پرون غلام دې نن په مونږ سلطان کړو

دا د خپلو خطاګانو سزا مومي
پښتنو چې خپل وطن د جنګ مېدان کړو



Scanned by CamScanner

نـــور د صـــبر د زغملـــو تـــوان مـــو نـــشته
ډېـــر دې اوربدا د صـــبر امتحـــان کـــړو

پاکـه خدایـه سـتا پـه لـوئے کـرم بـه کېـږي
پـه دې خپـل تـدبير کښې پاتې دې انسان کړو

لويـــه خدايـــه بـــس د امـــن دعـــا غـــوارم
د فېـــروز دې کـــه پـــوره دغـــه ارمـــان کـــړو

❀❀

يو شعر

د وخـــت د درونـــد پېتـــي د لانـــدې زمـــا
د ژونـــد ناتوانـــه شـــان اوږې ســـتړې شـــوې

❀❀

يو شعر

خـدائېګو ډېـر دي د رښـتيا وئېـل ګـران شـوي
چـــې رښـــتيا رســـېږي کلـــي وي وران شـــوي

❀❀

# ګرانه زندګي ده

څــومره ګرانــه زنــدګي ده پــه دې خــاوره
شــپه او ورځ شــرمندګي ده پــه دې خــاوره

دا وطـــن د زرداراނـــو مملکـــت دے
د غريــب تــشه نيــستي ده پــه دې خــاوره

چــې هــر وخت پــرې د ګولــو بــاران ورېږي
د بمونـــو کاشـــتکاري ده پـــه دې خـــاوره

کــوم آفــت دے چــې پــه دې نــۀ دے راغلــے
دا د چـــا مهربـــاني ده پـــه دې خـــاوره

نابغـــه پکـــښې فېـــروزه پېـــدا نـــۀ شـــو
چــې دا څــۀ رنــګ بيمــاري ده پــه دې خــاوره

❁❁

# خاوره جنتي

په ارمان د خپلې خاورې د خدمت یم
مسافر په بل وطن یم بدقسمت یم

باشنده ئې زۀ د خاورې جنتې کړم
خو ژوندے پکښې په ډېر ستر هذیمت یم

رانه مۀ پوښته چې ښنګه ژوندون تېر شو
راتېر شوے تر لمحه لمحه قیامت یم

یو د وخت منډو کښې پاتې بل هغه هم
ګام په ګام ئې ګرځولے ملامت یم



Scanned by CamScanner

د انسان مقام خو لوړ د فرښتو وي
چې دا زۀ په څۀ نيمګړي نيم قامت يم

خدايه امن صلحه غواړم په وطن کښې
په اميد ستا د کرم او د رحمت يم

زۀ هر چا لره د ښې ورځې طلب کړم
په دا کار په نيت کښې روغ او سلامت يم

❀❀

قطعه

ورته وايه چې پياله او جام ساتي
په رندانو دې ساقي لړ پام ساتي

دا وارۀ وړۀ د لويو نه ډېر ښۀ دي
دوي په خپلو کښې دعا سلام ساتي

❀❀



Scanned by CamScanner

# پښتانۀ مري

دا د چا په لاس او خلۀ مري پښتانۀ
چې په خپل وطن کالۀ مري پښتانۀ

نۀ قاتل او نۀ مقتول په دې خبر دے
چې دا ولې او په څۀ مري پښتانۀ

د جنت په طمع يو کس به ځان وژني
ورسره پنځوس شپېتۀ مري پښتانۀ

داسې کور نشته چې يو او دوه ئې نۀ مري
کله کله شپږ اتۀ مري پښتانۀ

دا جابر خلق په دې خبره پوهه دي
چې ارزان دي او ډېر ښۀ مري پښتانۀ

د خپل مړي بدل تل اخلي فيروزه
د پښتون په خاوره نۀ مري پښتانۀ

❀❀

# ښائسته پښتنه پېغله

د ښائست واړه حدونه پرې تمام دي
تشبيهات او مثالونه پرې تمام دي

ناز ئې څۀ چې هر انداز ئې دلنشين دے
د فطرت نزاکتونه پرې تمام دي

خوږه داسې چې خوږې کوي خبرې
لکه ساز چې ټول سرونه پرې تمام دي

مينه داسې چې ثاني ئې موندے نۀ شي
ټول د مينې داستانونه پرې تمام دي

حيا داسې چې ئې داغ په لمن نشته
وفا دا چې صفتونه پرې تمام دي

په خوږو مصرعو ئې وستايه فېروزه
هم معنې او هم لفظونه پرې تمام دي

❀❀



Scanned by CamScanner

# قاتل لالے

په ما خو نۀ دے د قاتل لالي خفګان ته ګوري
زما په مرګ باندې بادار ګټې تاوان ته ګوري

مونږه په مړو باندې هم ژړا ته نۀ پرېږدي څوک
زمونږ په کوکو خفه کېږي چې خپل شان ته ګوري

زلمي خو لاړل ساه ئې لنډه شوه په غرو کښې اوسي
سپين سري هېڅ کولے نۀ شي پاس آسمان ته ګوري

پښتون پخپله په ځان کړي ګيلې خله کوي
هېڅوک د قام ګټو ته نۀ ګوري خپل ځان ته ګوري

بيا هم د ښې ورځې په طمع په سوکړه کوو ژوند
لکه په للمه چې څوک کر کوي باران ته ګوري

فېروزه وار به د پښتون په غليم بيا رادرومي
برے به مومي په جهان کښې چې جهان ته ګوري

❁❁



Scanned by CamScanner

# اختيار

تـا اخـستے چـې اختيـار زمـا د خـاورې
وران کنـډر شـو کلـے ښـار زمـا د خـاورې

سـتا پـه خـاوره خـو د امـن سـاز غږېـږي
تـود پـه ويـر دې کـړو بـازار زمـا د خـاورې

لـه آسـمانه اور چـې وورې پـه مـونږ وورې
خلـق تـول دي ګنهګـار زمـا د خـاورې

مقبـرو بانـدې مـو سـرې جنـډې رپـېږي
راشـه وګـوره سـينګار زمـا د خـاورې

ګـل مخونـه شـو د تـورو خـاورو لانـدې
هـر يـو کـس دے قـصور وار زمـا د خـاورې

❀❀



Scanned by CamScanner

## ژوندون

ژوندون څـه دے د اوږدې لارې مـزل دے
دا مـزل د هـر انـسان د لارې مـل دے

پـه دې لاره کـښې بلها ډېـر ګړنګونـه
لـوړ پېچـومي ډوبـې کنـدې کړلېچونـه

غورځېـدل دي پاسېـدل دي او بيـا تلـل دي
بـې درکـه بـې منزلـه ګرځېـدل دي

لکـه ړونـد چرتـه پـه خوشـي بيابـان کـښې
انسان ورک شي د ژوندون په سود او زيان کښې

پـه تـلاش تـلاش کـښې ورک شـي او فـاني شـي
د مقـصد حـصول يـو خـوب د لېـوني شـي

❁❁



Scanned by CamScanner

# جنګ زپلي مخونه

راشـــئ وګـــورئ زمـــا د قـــام ګلونـــه
مـړاوي خـړ پـړ تنـده غـري زيـړ مخونـه

لـوږه تنـدو بـم بـارودو دي غـوغ کـړي
لکـه غـوغ شـي ښـاپيرو نـه وزرونـه

د هغـو غتمـانو زهـر دې خـوراک شـي
چـې نـه اوري د نهـرو اوازونـه

د بنيـا بچـي مـزې کانـدي خوشـحال دي
زمـا اوږي بچـي غـواړي خيراتونـه

چـا چـې وران زمـا د خـاورو ګتـو کـور کـړو
د هغـوي دې الله وران کـړي محلونـه

❁❁



Scanned by CamScanner

❁❁

زور بدل در نه دښمن اخلي پښتونه
ننګ ناموس دې میرځمن اخلي پښتونه

ستا جنت وطن په تا باندې دوزخ دے
سرې لمبې دې شین چمن اخلي پښتونه

ستا د ژوبل وطن هر اندام نیلام دے
څوک دې سر څوک دې خرمن اخلي پښتونه

ستا په خاوره باندې ستا وینه بهیږي
خون بها دې نور واکمن اخلي پښتونه



Scanned by CamScanner

د نړۍ په مخ که هر ځائے تيلے بل شي
اور زما او ستا لمن اخلي پښتونه

ستا په خاوره د وسلې ازمائش کېږي
ستا په سر رويږي تومن اخلي پښتونه

ستا په بد حال د اسمان زړهٔ نهٔ خوګېږي
درنه وار په وار زامن اخلي پښتونه

❁❁

درې شعرونه

په خپل بې وسه ژوندانهٔ باندې ما تل ژړلي
ما تر مودو مودو په خپل حال مسلسل ژړلي

چا هم زما دپاره نيمه اوښکه تويه نهٔ کړه
ما د هر چا دپاره ربه څو څو ځل ژړلي

نهٔ مې په ژوند کښې د خوږمن زړهٔ مسيحا پېدا کړو
نهٔ مې په مرګ باندې په چم کښې پردي خپل ژړلي

❁❁



Scanned by CamScanner

## د اردو د غزل د يوې مطلع په تاثر کښې

په يو وار مې سزا وار که کنه ياره
په ما تورې خاورې بار که کنه ياره

که لائق دې د يارۍ نۀ يمه جانه
بيا دې بيله رانه لار که کنه ياره

که په سترګو دې ښۀ نۀ لګمه خير دے
لرې سترګو نه دې خار که کنه ياره

زړۀ مې غواړي چې د مينې پسرلے شي
راله زړۀ بهار که کنه ياره

په ښو دې ګرځومه لکه ستورے
لږ مې سترګو کښې ايسار که کنه ياره

ستا د ګل وجود د کوم ځيز به ځار ږم
خدائے مې تول درځنې ځار که کنه ياره

❁❁



Scanned by CamScanner

## قصيده "بفرمائش د يوې نازنينې"

آراسته ئې ستا زلفې ولونه ولونه
فرښتو ئې په جبين ايښي خالونه

شونډې سرې زما د يار لکه انار دي
اننګې غُنچې غُنچې ئې سرۀ ګلونه

نوم ئې خور لکه ګبين راباندې لګي
حسرتونه مې په زړۀ ئې ديدنونه

سترګې ستا د هوسۍ لرې دلبره
نازولې په ناز ناز ږدې قدمونه

اور کړې پورې د مئينو په جونګړو
وروې د بام د سره چې اورونه

رنګ په رنګ شوخي د برګ و ګل سبوا شي
لکه ځائے په ځائے څوک وشيندي رنګونه



Scanned by CamScanner

زر به در په در شي ډېر درېسې ياره
ارماني به په زړۀ يوسي حسرتونه

يار زما د زړۀ په باغ کښې سُور گلاب دے
لور په لور ئې راخوارۀ دي نکهتونه

قصيده په فرمائش فېروز ليکلې
د مصرعې په سر د يار د نوم حرفونه

❁❁

دوه شعرونه

زما په سر چې وو د سره هغه سپوري لاړل
د ژوند کتاب نه مې د خوند ليکلي توري لاړل

د خپل وطن خلق مې وليدل په نيمو شپو کښې
کډې په سر د نامعلوم منزل په لوري لاړل

❁❁



Scanned by CamScanner

❁❁

په سترګو کښې نشه شه په شونډو پیمانه شه
سرور شه جام پیاله شه ساقي شه میخانه شه

توده شه سره لمبه شه سینه کښې مې سینه شه
جذبه شه ولوله شه خوله شه پسینه شه

طوفان شه په غورزنګ شه په قهر په کینه شه
په بحر د جذباتو د موجونو سفینه شه

د زلفو سیوري جوړ که خوره شه توره شپه شه
سحر سحر رابنکیل شه د نسیم یخه چپه شه



Scanned by CamScanner

سپرلے شه نوبهار شه ګلونه شه وږمه شه
د مینې ساز نغمه شه شیرینه شه خوږه شه

لېمو کښې مې راکوزه هېڅ کله جدا مۀ شه
جانانه زما ستړي ستړي ژوند لره دمه شه

تۀ ونه د چینار شه زما ژوند د سپېلني شه
جانانه ستا د ښکلي بدن ځار زما ځواني شه
۱۹۹۰

❁❁

قطعه

تا د وفا اوښکې په ډېره بې ارزې، توې کړلې
د بې وسۍ په اوښکو سترګې زما ډکې شولې

ملک د پښتو دے ګڼې ما به هم په کوکو ژړل
په دې احساس مې راوتلې اوښکې کلکې شولې

❁❁

# بې وطنه مسافر

وطنه تهٔ چرته کښې پاتې شوې او زهٔ مسافر
مونږ درنه لاړو په دوډۍ پسې سپېرهٔ مسافر
زړونه مو کاڼي شو ذهنونه مو ړاندهٔ کاڼهٔ شو
سترګې مو وچې شوې وراستهٔ مو د لېمو باڼهٔ شو
د محبت سندرې لاړې ساندې ډېرې وايو
اوس د بيمار ذهن وتلې تېرې بېرې وايو
که د سينې د کور ورونه مونږه پورې ساتو
وطنه بيا هم ستا يادونه په زړهٔ پورې ساتو
خدائے زده وطنه چې نصيب به ستا ديدار شي زمونږ
که دا ژوندون به د سفر زوړند په دار شي زمونږ
خو بيا هم طمع لرو دا چې خاوره مور لرو مونږ
کلے حجره پتے درشل لرو او کور لرو مونږ
څوک ستا د لورې چې راځي خبر په آن رسوو
ستا د وږمو د وېش په طمع ورته ځان رسوو
ستا د ښکلا او د ښائست ترې تپوسونه کوو
ستا د فصلونو بارانونو ترې سوالونه کوو
که د سپرلي خبرې کړي ماحول سپرلي سپرلي شي
لکه په غاړه د اسمان کښې د شفق سرخي شي



Scanned by CamScanner

کــه د يخنـــۍ خبـــرې کـــړي نـــو مـــونږه وبـــورېږو
لکـــه پـــه ونـــه کـــښې د پـــاڼو پـــه شـــان ورېږد يـــږو
کـه د ګرمـۍ خبـرې کـړي داسـې تـاودۀ تـاودۀ شـو
لکـــه د ژمـــي د نغـــري پـــه غـــاړه تـــود اودۀ شـــو
کـــه د چينـــو خبـــرې کـــړي يـــا د واورينـــو څوکـــو
لکـه ګودر تـه چـې قطـار وي د ښائـسته پېغلوکـو
کـه چرتـه ګـور ځنګـل کـښې حسـن د چنـار يـادوي
لکـــه د زلفـــو پـــه تيـــارو کـــښې مـــخ د يـــار يـــادوي
وطنـــه تـــولې قيـــصې ماتـــه کليـــوال ووائـــي
خـو پـه اخـر کـښې راتـه سـتا د لـوري سـوال ووائـي
وطـن کـښې هـر څـۀ هـر څـۀ وو خـو نـۀ وې تـۀ فېـروزه
چـې پـه ډوډۍ پسـې ورک شـوے ئـې سـپېرۀ فېـروزه

❀❀

قطعه

الـــوځي ئـــې د لاســـو نـــه ګـــونتره بيـــا د امـــن
جوړېږي نه پـه مېـنځ کـښې مـو خبـره بيـا د امـن

غماز پکښې انتـر منتـر ورګډ پـه څۀ هنر کړي
سازېږي نه پـه ساز کـښې مـو سندره بيـا د امـن

❀❀



Scanned by CamScanner

# عمران خان زمرے

يو کس دے چې يو سوچ لري په زړۀ کښې د بدلون
يو کس دے چې د وران ويجاړ وطن غواړي سمون

يو کس دے چې نۀ ستړے شو نۀ ودريدو په لاره
يو کس دے چې راوتے دے يواځې په لار يون

يو کس دے چې زما او ستا بچو لره لګيا دے
يو کس دے چې ځوانانو ته به ښائي سباوون

يو کس دے چې په لاره د رحمان کوي مزل
يو کس دے چې د صدق او اخلاص لري جنون

يو کس دے چې ظالم ته راولاړ شو لکه غر
يو کس دے چې د ستر ظلم په ضد کوي غبرګون

يو کس دے چې په نوم باندې عمران نيازي بلل شي
يو کس دے چې ستر زړۀ لري سينه کښې د پښتون

❀❀



Scanned by CamScanner

# خېبر

د تاریخ په جبین خال زما خېبر دے
د هر دور سره سیال زما خېبر دے

دا زما د شاه زلمو د سر پټکے دے
د پېغلو په سر شال زما خېبر دے

د خاطر د تخیل رنګین غزل دے
د حمزه د شعر خیال زما خېبر دے

دا زما د ابا کور د مور زانګو ده
د جانان د زلفو تال زما خېبر دے

بدرګه دے د دنیا د لښکرونو
دروازه د استقبال زما خېبر دے

دا کــور بــه د مېلمنــو د هــر وطــن د ے
پنــاه ګــاه ئــې هــر د ېـوال زمــا خېبــر د ے

افريــدي ئــې مــلا تړلــي توريــالي دي
د مورچلــو پــه مثــال زمــا خېبــر د ے

د شــينوارو مــلا ګــورو پکــښې کــور د ے
د فېــروز وتلــے فــال زمــا خېبــر د ے

❁❁

## مياں افتخار حسېن ته خراجِ تحسين

پــه دار خــتلے د ے ســردار د ے زمــونږ
ننګيــال ښــاغلے افتخــار د ے زمــونږ

د قــام دپــاره ئــې قربــان بچــي کــړل
هغــه هــم وروړ هغــه ســالار د ے زمــونږ

❁❁

د اردو د نظم د تاثر لاندې

❁❁

که ته لاړې مروره
زما واوره دا خبره
وخت به هغه شان تېرېږي
د وخت ژرنده نه ودرېږي
هم به هغه شان سپرلے وي
هم سپوږمۍ به وي هم ستوري
هم پيتاوے او دا سبوري
بس يوه د زړه دنيا به
ويرانېږي خامخا به
وي هغه به زما جانه
خدائے مې مه کړه بې له تا نه

❁❁

# پښتون خودکش زلمي ته

زما خودکش بچیه
چرته روان شوې ګله
مور دې د سپینې خولګۍ
په څو څو وار ځار شه
زما خودکش بچیه
زۀ ستا د خپلې خاورې
يو پلار پوښتنه کوؤم
په تا مې نۀ لوريږي
چې ستا دا سرې پیچکې
دغه غندل ځواني دې
په اور ایره ایره شي
په بم ریښه ریښه شي
چې تانه پاتې شولې
هر چا نه پاتې شولې

زما پښتون بچيه
د مور سکون بچيه
نه دي ايمان وګټو
نه دي خپل خان وګټو
نه دي پښتو سر کړي
نه دي پېسې کارېږي
زما ګل رنګ بچيه
زما لوړ دنګ بچيه
چرته روان شوې ګله
مور دې سپينې خولګۍ
په څو څو واره خار شه
داخل لږ فکر وکړه
د پلار فرياد دې واوره
د مور ژړا ته غوږ شه
د خاورې غږ دې واوره
راشه زما ګلابه
زما په خوا کښې کښېنه
چې دا ګلونه درکړم
دغه سيندونه درکړم
دغه لوئې غرونه درکړم

دا چمنونــــــه درکـــــړم
دا موســــــمونه درکـــــړم
خـــوارۀ وختونـــه درکـــړم
راشـــه زمـــا شـــه ګلـــه
بـــس کـــه پخـــلا شـــه ګلـــه
دا تـــول جهـــان ســـتا دے
چـــې بنـــکلے ځـــان ســـتا دے

❁❁

دوه شعرونه

نـن چـې پـه مـا ده سبا تـا بـانـدې راتللے هـم شـي
زمـا د کـور اور سـتا تـر کـوره رسـيدلے هـم شـي

هغـۀ تـه اووايـه چـې دومـره ظلـم وکـړي پـه مـا
سبا چې څومره بيا پـه ځان باندې زغملے هم شي

❁❁

❀❀

دا اوږدې اوږدې اوږدې شـــــــــپې
د هجــــران تــــورې تيـــارې شـــپې

بــــې لــــه يـــاره بــــې همدمـــه
بــــې ســــروره بــــې مـــزې شـــپې

تـــصور كـــښې مـــې رادرومـــې
د ســــرور ډكـــې خـــوږې شـــپې

ســـتا د وصـــل پـــه ســـپرلو كـــښې
زمـــا وې وږمـــــې وږمـــــې شـــــپې

اوس د هجر تورې شپې دي
په ژوندون خورې ورې شپې

څه پیکه پیکه تیرېږي
په سفر د ژوند ترخې شپې

د فیروز زړګي دې تور کړو
اے تورمخې اے سپیرې شپې

❁❁

## د اکرام الله ګران بابا په مړینه

ګران د مجاز د کوره لاړ تر حقیقته پورې
د ازمائشه شو راتیر تر صداقته پورې

ګران د رحمان نه پس د ګردو پښتنو شاعر ؤ
تل به یاد یږي په دنیا کښې تر قیامته پورې

❁❁



Scanned by CamScanner

❀❀

مونږ د يو بابا بچي يو پښتنو
ولې يو بل نه پردي يو پښتنو

دا مونږ چا په لر او بر کښې يو وېشلي
کوز خېلي او بر خېلي يو پښتنو

راشئ يو ځائے ملا تړلي شئ د ښمن ته
ولې يو بل نه شکي يو پښتنو

يو مو ګټه يو تاوان او يو مو ننګ دے
مونږ د يو خونې سرې يو پښتنو

مونږ د متمو په زور تل دے ځان ساتلے
خلق مړۀ او مونږ ژوندي يو پښتنو

مونږ غاصب د خپلې خاورې زغلولے
مونږه هغه شاه زلمي يو پښتنو



Scanned by CamScanner

مونږ د ننګ په کار کښې سر کله ساتلے
مونږه تل سر په تلي يو ګرځوو

مونږ مرګي ته په خندا ورغاړه ووځو
مونږه داسې لېوني يو ګرځوو

حفاظت د خپلې خاورې شو کولے
په جهان کښې مېړني يو ګرځوو

په دې يو کار کښې مونږ پاتې يو فېروزه
چې د علم نه باغي يو ګرځوو

❁❁

يو شعر

زرې زرې کله په کټ کله په فرش اودهٔ شم
خو کله کله د اشنا د خيال په عرش اودهٔ شم

❁❁



Scanned by CamScanner

## د مسافر زندګي

سفر سفر زندګي
زمونږ اکثر زندګي
خاورې په سر زندګي
دا در په در زندګي
بار مو په سر زندګي
لکه د غر زندګي
اوتر اوتر زندګي
لکه محشر زندګي
لاندې د نمر زندګي
د دار په سر زندګي
د کور بهر زندګي
ازغي بستر زندګي
د مسافر زندګي
لکه سقر زندګي
ربه بهتر زندګي
په کور و در زندګي



Scanned by CamScanner

غــوا ړم ګــوهر زنــد ګي
نـــه ســـمندر زنـــد ګي
د زورور زنــــــــد ګي
نــۀ د خــۀ شــر زنــد ګي
پـــه پښـــتور زنـــد ګي
يــا پـــه خيبـــر زنـــد ګي
بـــس د بـــشر زنـــد ګي
لکــــه د نـــر زنــــد ګي

❁❁

قطعه

د يــو ډوډۍ دپــاره خبــر دې کــه تــرې وغوښــتلو
ښــۀ پــه تحقيــق وائــي چــې رزق بــه الله درکــوي

د چــا وژلــو لــه دې زهــر کــه تــرې وغوښــتلو
بې لــه تحقيقــه بــه ئــې فــى سـبيل الله درکــوي

❁❁

❀❀

بيا په خپلو کښې جنګېږي پښتانهٔ
بيا په سرو وينو لمبېږي پښتانهٔ

څنګه جنګ دے چې انجام ته نهٔ رسېږي
خدايه څومره به قتلېږي پښتانهٔ

او په هر ځائے د نړۍ دے لګېدلے
خو پکښې فقط سوزېږي پښتانهٔ

نهٔ څوک امن راولي د دوي تر مېنځه
نهٔ په خپلو کښې پوهېږي پښتانهٔ

دوستان نهٔ لري بدبخته ازلي دي
د دښمن په چال غورزېږي پښتانهٔ

نهٔ ئې پوهه شته نهٔ علم او نهٔ عقل
خدايه کله به سمېږي پښتانهٔ



Scanned by CamScanner

نه ئې ګتمه د ايمان شته نه د خاورې
هېڅ بې هېڅه خاورې کېږي پښتانه

د نرې قامونه وختل اسمان ته
ورځ په ورځې لاندې کېږي پښتانه

ناپوهي فيروزه لويه الميه ده
خدايه کله به پوهېږي پښتانه

❁❁

قطعه

د ښائست په زور مې سر ټيټول غواړي
ښکلے يار مې په خپل در ټيټول غواړي

د دستار عُذر مې د هر خل ورته وکړو
خو مغروره يار مې زر ټيټول غواړي

❁❁



Scanned by CamScanner

## اختر

وینې وینې مې ځیګر دے څۀ اختر دے
سوے سکور مې در او ور دے څۀ اختر دے

ماشومان مې په غارونو کښې پټ شوي
جوړ په ما باندې محشر دے څۀ اختر دے

سرې مرۍ مې د ځوانانو غوټې شوې
هر نفس اوتر اوتر دے څۀ اختر دے

غداران مې د وطن ورسره مل دي
په خپل کور کښې راته شر دے څۀ اختر دے

د اسلام په نوم ئې جوړې زما پرهکرې
مغل خومره زورور دے څۀ اختر دے

لر او بر ئې خپل وطن کښې مرستيال نشته
پښتون بيا خاورې په سر دے څۀ اختر دے

دوست ئې نشته دښمنان دي ترې چاپېره
ځان له سر دغه خودسر دے څۀ اختر دے

په پښتون ظلم فيروزه څنګه هېر کړم
زړۀ د هر پښتون پرهر دے څۀ اختر دے

❀❀

قطعه

د سړو نه هم په ضد او په انا کښې
دوه قدمه پُښتنې پېغلې چالاکې

په هر خوي کښې ئې مثال په دنيا نشته
مينه ناکې صبر ناکې حيا ناکې

❀❀

## امت حسن بنګش ته عقیدت

د ژوندون په هر ډګر ئې سر اوچت دے
د ادب په باغ د سروې په قامت دے

د فکرونو غوطه زن د خیال باتور دے
د غزل تاج ئې په سر په شان شوکت دے

سنجیده په خپل عمل مرد کامل دے
رنجیده په هر وګړي د امت دے

تمنا ئې ښېرازي د خوږ وطن ده
مدعا ئې بې غرضه تل خدمت دے



Scanned by CamScanner

صبر شکر قناعت ئې په نصیب دے
خدائے تعالیٰ ورله ورکړے ښۀ سیرت دے

د پښتو ژبې خدمت پسې تل ګرځي
دغه کار ئې لکه کړے عبادت دے

په اُمت بانډې اباد دي ماښامونه
د فیروز ورسره څکه عقیدت دے

❀❀

نوټ: دا نظم مې د اُمت بنګش صیب د ژوند په اخري ورځو کښې د هغۀ سره نمانځلے شوي اخري ماښام په موقع اورولے ؤ.

## یو شعر "د خودکش فاتحه"

د پښتون په خاوره ډېر داسې وکړي
فاتحه په اشارو اخلي د مړي

❀❀

# لائق اسیر ته عقیدت

په خوي باندې فقیر دے خو په زړهٔ باندې امیر دے
لائق د انساني اوصافو بشپړه تصویر دے

مزاج ئې داسې نرم لکه پرخه په ګلونو
مُسکا ئې د مزاج د ګل وړین احساس تصویر دے

په عمر دے وړوکے خو په پوهه کښې ځیرک دے
په لار د مېړنتوب کښې د ځوانانو ښکلے میر دے

د مینې سلطنت ئې چې تر لرې لرې خور دے
د امن په تلاش کښې دروېزه ګرځي سفیر دے

د امن پیغامونه ئې د شعر انګازې دي
سندرې ئې غمژنې دي د قام په حال ظهیر دے

کلام ئې ښائسته په وزن بحر روغ شیرین دے
فیروز ځکه لائقه ستا د خیال د بڼ اسیر دے

❀❀



Scanned by CamScanner

# د خپلې خاورې شاعر

زۀ شاعر د پښتونخوا د لويو غرونو
زۀ شاعر د خپلې خاورې او رغونو
زۀ شاعر د ختمو جوړ کچه کورونو
زۀ شاعر د خپل وطن د سنګرونو
زۀ شاعرد صحراګانو او سيندونو
زۀ شاعر د شنو باغونو چمنونو
زۀ شاعر د پښتون قام د ارمانونو
زۀ شاعر د خواري کښو چاؤدو زړونو
زۀ شاعر د پښتو ژبې او شعرونو
زۀ شاعر د خپل اولس فکر خيالونو
زۀ شاعر د لوئې افغان د مرکزونو
زۀ شاعر د افغاني غيرت دودونو
زۀ شاعر د خيبر لوړو کنډاوونو
زۀ شاعر د ملاکنډ يخو بادونو
زۀ شاعر د بره سوات د ابشارونو
زۀ شاعر د دير چترال د ځنګلونو
زۀ شاعر د تيراه لمنځو نښترونو
زۀ شاعر د اباسين د غورځنګونو



Scanned by CamScanner

زۀ شاعر د يار د زلفو د تالونو
زۀ شاعر د تورو سترګو او خالونو
زۀ شاعر د ناز ادا او مکېزونو
زۀ شاعر د سورکو شونډو او جامونو
زۀ شاعر د ښېښتنې د اوربلونو
زۀ شاعر د شاه زلمو د دستارونو
زۀ شاعر د توريالو د غېرتونو
زۀ شاعر د ملالۍ جبين خالونو
زۀ شاعر د مسافرو د فکرونو
زۀ شاعر د مئينانو د آهونو
زۀ شاعر غريبانو د خوبونو
زۀ شاعر د چاؤدو زړونو پرهرونو

❀❀

قطعه "جنرېشن ګېپ"

چاته دا مۀ وايه چې نۀ پوهېږې
يا تۀ په دې خبرو څۀ پوهېږې

په دا وېنا به بل ازار شي درنه
که تۀ هر څو د دۀ نه ښۀ پوهېږې

❀❀

# ارمان

ارزوګانې مې د سپین سباؤن کړې
ډېرې تورې تورې شپې مې سبا کړې
د یخ سبورې د دمې په طمع طمع
د ژوند دروند پېټی مې ډېر په اوګو وړی
د ښۀ عمر په لټون پسې ورک شوي
ډېر په لوړو او ژورو ګرځېدلي
د کور غولې کښې نګهت د سرو ګلونو
ډېر خوبونه د سپرلي مې وو لیدلي
د ارمان د باغ لټون پسې وتلي
د بورا په څیر ګلونه مې غوښتلي
د سراب اوبۀ مې ډېر ځله ګوتلي
د خیالي پلاؤ شخوندونه مې وهلي
خدائے بې شکه چې مدد د هغه چا کړي
چې د ځان مدد پخپله خامخا کړي
د دنیا د ګوټ ګوټ شګې مې چاڼ کړې
څۀ د ژوند خوارۀ تراخۀ به راله راکړې
اوس که ډېر څۀ مې د ځان سره راوړي
خو د ژوند جذبې مې مړې دي غم خوړلي

فیروز خان اپریدے

Scanned by CamScanner

د لېلې د پېنزېب شرنګ نهٔ اورم کوڼ یم
د بنګړو د شور سرونه ترې وتلي
سرو او شنو ته کتے نهٔ شم ترې بېزار یم
په تېر عمر اوس د هرې بلا ښکار یم
د زړګي چمن ویجاړ شو سپرلي نشته
وچ ډنډر کښې د ګلونو پاتې خار یم
نهٔ د مست بورا مستي نهٔ بلبلان شته
نهٔ چمن کښې نور څهٔ رنګ شته نهٔ ګلان شته
د ارمان په څلي ناست وختونه ژاړم
نهٔ ځوانی شته نهٔ خوندونه د جهان شته

❀❀

(د اردو د یو نظم په تاثیر کښې)

قطعه "کمیونېکېشن ګېپ"

یو بل سره کوئ د خوند خبرې
چې رابطه مو سره نهٔ ماتېږي

چې تهٔ په یوه ځې بل په بله درومې
ځکه د یو بل نه مو زړهٔ ماتېږي

❀❀

# سقوطِ سوات

راشه په سوات کښې دا تیارې او دا تورتم وګوره
راشه جنت کښې سرې لمبې د جهنم وګوره

راشه هر کور کښې ژړاګانې دي محشر دے کنه
راشه په سرو وینو د سوات هر یو سنګر دے کنه
راشه رودونه د سرو وینو چم په چم وګوره
راشه جنت کښې سرې لمبې د جهنم وګوره

راشه بارودو باندې سوے دا چمن دے کنه
راشه کنډر کنډر دا وران ویجاړ وطن دے کنه
راشه قطرې قطرې د سرو وینو شبنم وګوره
راشه جنت کښې سرې لمبې د جهنم وګوره

د پښتونخوا وطن په وینو باندې سور دے کنه
خدایه د ظلم بازار ګرم دے تنور دے کنه
راشه په کونډو یتیمانو دا ستم وګوره
راشه جنت کښې سرې لمبې د جهنم وګوره

❀❀



Scanned by CamScanner

# د ډاکټر شېر زمان سيماب کتاب "د دار په سر" په لوستو تاثرات

د دار په سر ئې د منصور په لاس بېعت کړے دے
سيماب رښتيا هم بغاوت د روايت کړے دے

د ملاکنډ غرونو ګواه په دې خبره اوسئ
چې يو شاعر درسره څومره محبت کړے دے

د فن په تار ئې دي پېللي د شعور دردانې
شاعر په خپل هنر کښې څومره رياضت کړے دے

دا دې څوک نۀ وائي چې دلته څوک سر پورته نۀ وړي
دلته هر چا په خپل انداز کښې بغاوت کړے دے

سيماب د علم په رڼا باندې تيارې غوڅوي
فيروز ئې ځکه په ښکاره دومره صفت کړے دے

❀❀



Scanned by CamScanner

# اروابناد افضل خان لالا ته

افضل بالاله سياسته قد قامت لرلو
افضل په قام کښې خپل ځانګړے شناخت لرلو

افضل رښتيا هم د پښتون قام يو والي غوښتله
افضل ارمان د لر و بر ملي وحدت لرلو

افضل به هر پښتون وګړي له عزت بخښلو
افضل د ټول اولس په زړونو کښې عزت لرلو

افضل د مرګه يرېدو نۀ ئې مورچل پرېښودو
افضل د پلار نيکۀ د نوم ننګ و غيرت لرلو

په زړۀ بادشاه ؤ په خويونو کښې ملنګ ؤ افضل
افضل افضل ؤ چې ئې دا رنګه صفت لرلو

افضل پښتون ؤ په پښتو ئې ؤ ايمان فيروزه
افضل يقين په خوار اولس کښې د خدمت لرلو

❀❀

# آزادي

مونږه پوښتنه د تاریخ د استاذانو کوو
نن لږه زده کړه د وطن د مشرانو کوو
مونږ په مفهوم د آزادۍ باندې هڅ نه پوهېږو
د کومې ورځې کوم تاریخ نمانځل دوستانو کوو

دلته په تشو تقریرونو به تر څو پورې مونږ
د قوم ملت د ودانۍ ذکر تکرار کوو
تکل د کوم منزل د کوم پړاؤ بار بار کوو
په خپله لار ځو که مزل د بل په لار کوو

دلته د خپل سپوري نه هم د وحشت د یو جوړ شوی
دلته د امن فرشتو ته اجازت نشته دے
دلته د وینو بهیدل څۀ دومره ګرانه نۀ ده
دلته د سر و مال او حال څۀ حفاظت نشته دے

اول د خدائے د دین دپاره مو سرونه ورکړل
اوس مې وجود ټوټې ټوټې پرهر پرهر ولې دے؟
اول مو وینې توئې کړي د وطن دپاره
اوس مې سورے سورے زخمي ځیګر ولې دے؟



Scanned by CamScanner

څو به د خوف او د تیارو په راج کښې مونږ اوسېږو
د چا په لمسه خونریزي مسلمانانو کوو
څو به د وهم او نفرت سماج کښې مونږ اوسېږو
دغه پوښتنه د وطن د حاکمانو کوو

مونږ هم په خپل جنت وطن کښې ځان له امن غواړو
مونږ هم د ژوند د تېرولو ارمان ژن یُو خدایه
مونږ ته هم پوهه د وطن د آزادۍ وبخښې
مونږ د وطن په دې حالت باندې غمژن یو خدایه

❀❀

ځان ځاني

د نفرتونو څه علاج پکار دے
دا د انسان نه ځناور جوړوي

یو بل ته لاس د خوړې مینې ورکړئ
ځان ځاني سم سړي نه خر جوړوي

❀❀

## سهره

نن په قدم کښې دې مستي وينمه چال وينمه
نن دې د زړۀ په دنياګۍ کښې نوے حال وينمه
نن دې په سترګو کښې نشه د چا د خيال وينمه
نن دې د زړۀ په شان دا ټول وجود خوشحال وينمه
نن طبيعت دې خندنے خندنے سيال وينمه
نن دې په شونډو ترانې د سُر و تال وينمه
نن نيازمندي د چا د حسن او جمال وينمه
انتظار لاړو اوس اغاز د نوي ژوند راغے
اوس د ژوندون په رنګينو کښې نوے خوند راغے
ما اوريدلے دے د چا نه حکايت واوره
د نن زلمو نه د مشرانو شکايت واوره
چې کوژدن وکړي نو اول ترې دوست او يار پاتې شي
چې وادۀ وکړي سمدستي ترې مور و پلار پاتې شي
چې وخت تېرېږي نو ورو ورو ترې خپل اختيارپاتې شي
پس له بچو نه د غريب نه خپل روزګار پاتې شي
اخر بوډا شي ترې ځواني ډول سينګار پاتې شي
چې بنۀ ضعيف شي نو ماضي ورته يادګار پاتې شي
وران عمارت ئې د وجود شي تش آثار پاتې شي

اخر ګمنام شي بس فقط پروردګار پاتې شي
هوښيار هغه چې د اسلافو تېر ژوندون ته ګوري
په آئينو د حال کښې ښکلي صباؤن ته ګوري
شکر اوباسه په مذهب کلک مسلمان ئې تهٔ
عالم فاضل ئې ثنا خوان د پاک سبحان ئې تهٔ
د خپل بابا ادې د زړونو غټ ارمان ئې تهٔ
د خپل همزولو په ټولي کښې ښکلے ځوان ئې تهٔ
د خوېندو ورونو محافظ ئې نګهبان ئې تهٔ
د يار او دوست نه ځاربدونکے ئې قربان ئې تهٔ
په ټول پوره چې وې سړے هغه انسان ئې تهٔ
ستر بختور ئې چې تر دې مقام راورسېدې
د ماشومتوب نه د ځوانۍ تر بام راورسېدې
هره لمحه د زندګۍ دې لوئے اختر شه ګله
دا مې دعا ده چې وادهٔ دې بختور شه ګله

❀❀



Scanned by CamScanner

## د مور غږ خپلو مسافرو بچو ته

راشئ مور غږه نیولې په منت ده
راشئ تاسو ته بلنه د جنت ده

بې له تاسو زما زړۀ سورے دے
بې له تاسو په ما هره ورځ قیامت ده

د سینې ګوګل مې سوزي او یخ نۀ شو
په هیله ستاسو د وصل او قربت ده

خدائے مو یو ناڅاپه راوله پخپله
مور په طمع له غیاب د کرامت ده

خدائے دې وساتي زما د ورځې هر څوک
په ما هره یو لمحه د اذیت ده

حقیقت په دنیا دغه دے فېروزه
مور عظیمه نمونه د محبت ده



Scanned by CamScanner

# کابل پېښور

یادېږي په نوم ښکلے کابل جان که پېښور دے
قربان ئې د وطن شم که د لر دے که د بر دے

زلمي ئې د وطن په ناموس تل شیندي سرونه
د پېغلو په جبین ئې د ننګ خال لکه د لمر دے

شملې ئې د زلمو دي لوپټې ئې د پېغلو کو
حیا غیرت او ننګ ئې د کلتور ښائسته زېور دے

تاریخ ئې روڼ ښکاره لکه د لمر په شان ځلېږي
ګواه ئې د عظمت په هر یو دور کښې خیبر دے

فیروزه په دنیا د ننګیالو دي ډېر قومونه
پښتون په دغه ټولو کښې له هر چا معتبر دے

❁❁



Scanned by CamScanner

## د افغانستان د کرکټ لوبغاړي
## رحمت ولي د شهادت په موقع

څنګ به څوک ووائي ازاد دے افغان
په خپل وطن کښې مرده باد دے افغان

په کور دننه ئې هم امن نشته
څنګه خپلواکه زنده باد دے افغان

پرون ئې روس نن امریکه حاکمه
د خپله لاسه تل برباد دے افغان

په کور ئې هر وختې ورېږي قهر
په غم ککړ ګرځي ناښاد دے افغان

په سر پټکې په غاړه تهائي تړي
حیف چې کرزے او خلیل زاد دے افغان

خدایه د کوم جرم سزا ورکوې
تل په جنګونو او فساد دے افغان

څوک ئې شهید او څوک ئې نه فېروزه
مړ په الحاد هم په جهاد دے افغان

❀❀

نوټ. امریکائي عسکرو د افغانستان د کرکټ لوبډلے ځوان لوبغاړے په خپل کور کښې شهید کړو. د هغې په تاثر کښې لیکلے نظم.

سپوري لاړل

زما په سر چې وو د سره هغه سپوري لاړل
د ژوند کتاب نه مې د خوند لیکلي توري لاړل

د خپل وطن خلق مې ولیدل په نیمو شپو کښې
کډې په سر د نامعلوم منزل په لوري لاړل

❀❀



Scanned by CamScanner

## د اجمل خټک بابا د اولنۍ کليزې په موقع

په حسن او ښکلا کښې باجماله ؤ اجمل
پښتو پښتونولۍ کښې بې مثاله ؤ اجمل

په ننګ او په غيرت کښې تول نهاله ؤ اجمل
مئين د پښتنو په خاوره سياله ؤ اجمل

د وخت په نبض پوهه خود ځان نه ناخبر
د قام په بده ورځ څومره بدحاله ؤ اجمل

په څټه که غريب ؤ خو په مينه کښې امير
د قام په خدمتونو کښې خوشحاله ؤ اجمل

په توره او قلم او هم په شعر او سخن
په دې کار کښې د خپل بابا د خياله ؤ اجمل



Scanned by CamScanner

په هر چا مهربان او ؤ هر چا وته نزدې
په هر لحاظ ربښتیا هم باکماله ؤ اجمل

پښتو ئې خرڅه نۀ کړه په بدل د مال او زر
ولاړ لکه د غر په پښتونواله ؤ اجمل

په کلي د زردارو کښې فیروزه دا ملنګ
په خپله فقیرۍ کښې ډېر سوکاله ؤ اجمل

❁❁

قطعه "ستا د لاسه"

چې د سمې لار منزل رانه خطا شو
زۀ د چا د لاسه وختم په غرونو

څۀ بې حد د وخت ځپېړو ووهلم
څۀ د ستا د لاسه وختم په غرونو

❁❁

## سېلاب زپلي

در په در خاورې په سر شول پښتانۀ
که د لر دي که د بر شول پښتانۀ

کوم غضب دے چې په دوي نۀ دے راغلے
ربز مربز زبر او زبر شول پښتانۀ

فسادونه جنګ جدل وينې او لوې
په هر لور سنګ و خپر شول پښتانۀ

زلزلې دي زول سيلۍ دي طوفانونه
په عجب قهرونو سر شول پښتانۀ

باراننه او سیلابونو په مخ یوړل
تول لاهو په سمندر شول پښتانه

نه ئې څوک والي وارث شته مددګاره
هم بې کوره هم نهر شول پښتانه

داسې کومه خطا شوې ده فیروزه
چې د بدو نه بدتر شول پښتانه

❀❀

قطعه (یادونه)

ستا د یاد تورې وریځې راځخېږي څاڅکي څاڅکي
یو د غم باران ترې جوړ شي راورېږي څاڅکي څاڅکي

بیا د زغم مې انتها شي غریو په شونډو زما راشي
راروانې مې شي اوښکې رابهېږي څاڅکي څاڅکي

❀❀



Scanned by CamScanner

## پښتنې لُور ته

چې په کومه ورځ وجود د ستا پیدا شو
پښتنې لُورې بابا دې په سودا شو

په خپل کور کښې خپل نصیب درته سور اور شو
ستا وجود د خپل پردي مخکښې پېغور شو

په خپل کور کښې ورور د خور نه معتبر شو
خور کمزورې ورور ئې مټې د تبر شو

خپل اولاد ئې یو بې وزله بل بهتر شو
عجیبه غوندې قانون د زورور شو

کور بهر د نارینه حکم چلیږي
ښځه غلې وي که هر څۀ پرې تیریږي



Scanned by CamScanner

نر نیازبین وي د هر چا د سترګو تور وي
ښځه تور وي ښځه شرم وي پېغور وي

په نازک وجود هر کار د دې په غاړه
کور پتې اوبه لرګي وابنه ټول واړه

که اوبه دي که لرګي که څناور دي
پخول او مړول د دې په سر دي

د ازل نه تر ابده کړي کارونه
د خندا په بدله اخلي غمونه

کله وخوري کله څملي بې خوړو نه
که څه پاتې شي کټوي کېښې د سړو نه

چې وړه وي د خپل پلار په کور د بره وي
چې شي لويه بيا د بل په کور سپېره وي

په ځوانۍ وي د خاوند د کور هرکاره
چې زړه شي د لمسو شي څوکیداره

چې د کور کارونه پاتې شي ترې واړه
ماشومان چرګې چرګان ئې شي په غاړه

دغه ښځه چې انسان ئې زېږولے
بیا ئې ولې په مرۍ د ے سړے غلے

❁❁

قطعه "پښتو"

نن مې سترګو ته پېغور بې وسۍ کړے
طوفاني اوښکې سېلاب ته په سوګند شوې

د شعور کچه بندونو تېنګې نۀ کړې
د پښتو د احساس ختمې ورته بند شوې

❁❁



Scanned by CamScanner

## حمزه بابا

حمزه لکه د نمر دے راختلے په خیبر
مشال دے چې بلېږي په اُفق د لر و بر

یو پُل دے د قدیم او د جدید ادب تر مینځ
یو غر دے چې ولاړ دے د فکرونو په وزر

د شعر و سخن د ریاست امیر حمزه دے
د علم و دانش دے بې پایانه سمندر

ظاهر ئې په سر خاورې بادونکے خاک نشین
باطن ئې د عرفان د بادشاهۍ دے سکندر



Scanned by CamScanner

سوونه کاله پس چرته زېږېږي يو حمزه
سوونه کاله خلق ئې انتظار کوي اکثر

الله چې چا له ورکړي درجات په دې دنيا
بيا څوک ئې کمولے شي عظمت د بختور

فيروزه د حمزه په مخ ادب د پښتنو
سپېڅلے په جهان کښې ګرځېدلے معتبر

❀❀

قطعه "د ملالې په ويشتلو" (اردو نه تاثر)

دا په کوم مذهب روان ئې نوم ئې څۀ دے؟
ولې نه چورلي په تاسو شين اسمان

څۀ ئې کړي وو د علم دې طالبې
جاهلانو چا وژلي ماشومان؟

❀❀



Scanned by CamScanner

# سیلاب زپلي

د مرګـــي ســـويري ريېـــړي پـــه ســـرونو
ګرګـــسان پـــه طمـــع ګرځـــي د لاشـــونو

څـــوک چـــې پـــاتې د بـــارودو مړ دکـــو وو
هغـــه مـــړهٔ کـــړل ســـېلابونو بـــارانونو

پړســـــېدلي بـــــد بوداره کالبوتونـــــه
د اوبـــو دپاســـه ګرځـــي پـــه ســـيندونو

يـو محشر دے څوک د يـو بـل خبر نهٔ دي
د مرګـــي کـــومي ډ کېـــړي د نفـــسونو



Scanned by CamScanner

يو افت نۀ وي چې بل پرې رانازل شي
پښتانۀ دي چې شول غرق په سېلابونو

زمکه مور ده په سينه ئې بچي مړۀ دي
اسمان بدې چارې وکړې د قهرونو

دا د يو ورځې افت نۀ دے فېروزه
په دنيا قهر راځي د اسمانونو

❁❁

قطعه "سندُور" (د اردو نه يو تاثر)
ځکه خلق په ډولۍ کښې لونه لېږدي
چې لُور مور هم وي په دې هم نۀ پوهېږئ

د سندُور په ځائے مو سُور کړو مانګ په وينو
نور مو څۀ زده خو په دې کار ښۀ پوهېږئ
❁❁

# د مور غلې

بې له موره اولاد نه کړېږي خدايه
په بل چا ئې زړګے نه سړېږي خدايه

د مور غلي ته ژړېږي ورته ناست دے
د ماشوم په زړه به څه تېرېږي خدايه

په دنيا کښې خوږ نعمت د خپلې مور دے
چې د هر بچي پرې زړه خُوږېږي خدايه

مور سوچه جذبه د داسې صداقت ده
چې په هيڅ قيمت هم نه خرڅېږي خدايه

په دنيا کښې د مور داسې لويه برخه
اول ته ورپسې مور يادېږي خدايه

د بچو په سر زمرۍ شي ترېنه جوړه
د هر چا سره بيا نه جنګېږي خدايه

په دنیا کښې داسې څوک نهٔ دي راغلي
چې د مور نه به ئې زړهٔ صبرېږي خدایه

کاش چې یو ځلې خو مور په دنیا بیا وي
تهٔ باچا ئې ستا پرې څهٔ کمېږي خدایه

ډېر کمبخت وائي چې مور مې نهٔ پوهېږي
مور د خپل بچي په زړهٔ پوهېږي خدایه

❀❀

درې شعرونه

زړهٔ ته دې اووایه چې بیا د مینې نوم وانخلي
هغه په دار خېژي چې څوک دلته جانان غواړي

سترګې دې پاکې کړه د ستورو یارانې ښې نهٔ دي
سپوږمۍ هم ګرځي وریسې یار په اسمان غواړي

پخپله زور د مینې نهٔ لري قسمت ته ژاړي
په لاس هغه کله ورځي چې څهٔ انسان غواړي

❀❀

## پښتنه پېغله ملاله

پښتنه پېغله ملاله
سوزېدلو کښې خوشحاله

مسيحا وي د غمجنو
مسيحا وي د بد حاله

د بې وسو په تندي پاس
د اميد د جبين خاله

د مئين د زړهٔ په دشته
لکه پرخه پشکاله

ننداره د حسن ځارو
ښائسته بدري جماله

په بادونو د خزان کښې
د سپرلي د مستۍ تاله

خپلې خاورې لره فخر
خپلې ژبې لره سياله

چې زوال نه لري داسې
لازواله باکماله

خدائے ورکړے چې سيرت دے
خپل پردي دي ترې خوشحاله

د پښتون حسن په عشق کښې
فيروز هم پکښې لېواله

❀❀

يو شعر

د خپل پلار د سېوري لاندې اسوده ووم
په لمر سوزم چې پخپله سائبان شوم

❀❀

# ګلدرې

د وطـــن د ګلـــدرو ســـندرې وايـــم
زه د لـــوړو لـــوړو غـــرو ســـندرې وايـــم

نـــور د ښـــكلو ښـــاپېرو ســـندرې وائـــي
زه د پېغلـــو پـــښتنو ســـندرې وايـــم

د وطـــن ســـيندونه دشـــتې ځنګلونـــه
زه د خـــاورې پـــسرلو ســـندرې وايـــم

چې د تُورې غړئې خور په ټول عـالم دے
زه د هغـــه شـــاه زلمـــو ســـندرې وايـــم



Scanned by CamScanner

نغمه ګر د پښتونخوا د هرې سیمې
د خیبر د تاترو سندرې وایم

زهٔ د خپلې پښتنې خاورې شاعر یم
ځکه هر وخت په پښتو سندرې وایم

زهٔ فیروز په خپل وطن باندې مئین یم
ځکه تل د پښتنو سندرې وایم

❁❁

قطعه (د یادونو هنګامې)

توره تیارهٔ شوه هر طرف ته خاموشي راغلې
بیا په سوچونو او فکرونو مایوسي راغلې

بیا به مې ذهن په تیارو کښې منظرونه ګوري
بیا د یادونو هنګامه مې په زړګي راغلې

❁❁



Scanned by CamScanner

# اتلان

راځئ چې ولمانځو نن اتلان د پښتونخوا
چې وځلوو ستوري په اسمان د پښتونخوا

په هر زمان ښاغلي په هر مېدان وتلي
چې هر چا دي منلي دا ځوانان د پښتونخوا

په شان لکه د غرونو ولاړ په مېدانونو
په هر ډګر ياد ېږي باتوران د پښتونخوا

وجود ئې په اقليم سوچ فکر ئې عظيم
د تُورې او قلم لوئے خاوندان د پښتونخوا

ملي لري غرور زلمي ئې دي مغرور
په خپل وطن قربان دے هر يو ځوان د پښتونخوا

اسلام دے که پښتو ده شمله د پښتنو ده
د پېغلو حيا برخه ده ايمان د پښتونخوا

❀❀

# د پښتون سندره

راځئ چې يا قربان کړو نن سندره د پښتون
سندره د پښتون

چې وکړو پکښې ذکر او خبره د پښتون
خبره د پښتون

راځئ چې پکښې وستايو تاريخ د لوئے خېبر
راځئ چې پکښې ياد کړو اشنغر او پېښور
ايلم پکښې ښکاره کړو ملاکنډ پکښې په سر
د سوات او د مردان پکښې تکرار وکړو اکثر
تاريخ پکښې ګواه کړو ښۀ په نره د پښتون
په نره د پښتون

چې وکړو پکښې ذکر او خبره د پښتون
خبره د پښتون

راځئ چې لږ ورتېر شو د کوهاټ نه تر ګومل
د حسن ګل خو کُرمې دے تومبلے په اوربل

جنوب د پښتونخوا كښې شاړې غرونه او ځنګل
د كوئټې او چمن خلق ځار ېږي يو تر بل
دا خاوره ده تر مښكو معطره د پښتون
معطره د پښتون

چې وكړو پكښې ذكر او خبره د پښتون
خبره د پښتون

په بره پښتونخوا كښې شرق ته پروت دے ننګرهار
كابل دے كه غزنے دے كه پكتيا كه قندهار
د ټولو پښتنو افغانستان دے مور او پلار
كه لر دے او كه بر دے يو ئې نوم يو افتخار
نامه ده په نړۍ كښې منوره د پښتون
منوره د پښتون

چې وكړو پكښې ذكر او خبره د پښتون
خبره د پښتون

په دې خاوره پيدا دے ايمل خان او دريا خان
د تُورې او قلم خاوند ياد ېږي خوشحال خان
كه يو طرف ته ګورې مبارز دے پير روښان

په بل طرف بلبل د شاعرانو دے رحمان
په هر لحاظ ده خاوره بختوره د پښتون
بختوره د پښتون

چې وکړو پکښې ذکر او خبره د پښتون
خبره د پښتون

په هر زمان پیدا دي په دې خاوره ښۀ ځوانان
د ټوري غږ خپل ئې په هند او په ایران
احمد دے که ایپې دے که ښاغلے باچا خان
حاجي د ترنګزو دے که شینوارے حمزه خان
فیروزه ښۀ قیصه ده معتبره د پښتون
معتبره د پښتون

چې وکړو پکښې ذکر او خبره د پښتون
خبره د پښتون

❀❀

نوټ: دا سندره سندرغاړي رحیم شاه وئیلې ده.

# مظلوم مسلمان

دا کونډې يتيمان بېر سرونه په هر لوري
تار تار شو حجابونه عصمتونه شو سر توري
دجبر تنيد کونه خوري بې کوره شو بې سپوري
ګولۍ لکه باران د غاصبانو په دوي اوري
نن خاورې شو هغه چې وو پرون د دوي غمخوري
طلب کوي د مرستې اوس زمونږ په طرف ګوري
چکۍ د استحصال کښې شو بې وسه او کمزوري
ژړا د دوي په حال کوي نن زمکه اسمان ستوري
فرياد کوي هر چا ته د وحشت نه امان غواړي
ګناه ئې فقط دا چې ازادي د خپل ځان غواړي
نن نۀ يواځې دا چې د کشمير مظلومان ژاړي
لکونه چې پرون شو د کابل يتيمان ژاړي
بې مرستې بې اسرې په فليپين کښې غازيان ژاړي

زرې زرې د ژوبـــــل فلــــسطين مـــسلمان ژاړي
پـه بوسـنيا او عـراق کـښې ښـځې نـر ماشومان ژاړي
پـه پنجـه د الحـاد کـښې سـتا نـاموس او ايمـان ژاړي
تــاريخ د شـــهيدانو ســتا پـــه حـــال نــاتوان ژاړي
ســـنگر د وطـــن ژاړي تُــوره ډال او ميــدان ژاړي
دښـــمن وپيژنـــه اې مـــسلمانه کـــه پـــوهيږې
تــر څــو بــه د الحــاد پــه ميچنونــو کــښې دل کيــږې
تــر څــو پــورې وجــود چــې د ماسـکو اوواشـنگټن وي
تـــر هغـــې بـــه خطـــره ستاســـو د تـــن او د وطـــن وي
تـــر څـــو چـــې د اغيـــارو پرکتيـــان او چاپلوســـان وي
تـــر هغـــې بـــه خطـــره ستاســـو د ديـــن او د ايمـــان وي
تر څو پورې خوشبين چې د مکروه نظام د روس وي
تـــر هغـــې بـــه خطـــره ستاســـو حيـــا او د نـــاموس وي
تر څو چې تالي څټ د امريکې پـه شـخوند عـادت وي
تـــر هغـــې بـــه خطـــره ستاســـو مـــذهب او شـــريعت وي
تـــر څـــو چـــې پـــه ذهنونـــو کـــښې غلبـــه د غلامـــۍ وي
تـــر هغـــې بـــه خطـــره ســـتا د وطـــن او ازادۍ وي
تـــر څـــو چـــې پـــه سـوچونو کـــښې امـــد د کثافـــت وي
تـــر هغـــې بـــه خطـــره ســـتا د تهـــذيب او ثقافـــت وي
تـر څـو پـورې غـيرت او خـودداري چـې سـتا ژوبـل وي
تـر هغـې د تقـدير اختيـار پـه لاس کـښې بـه د بـل وي

تر څو چې دې په زړهٔ کښې د جذباتو امتحان وي
تر هغې به خطره ستاسو د مينې او جانان وي
تر څو چې په شعور کښې دې خوف وېره د الحاد وي
تر هغې به خطره ستاسو جذبو ته د جهاد وي
تر څو چې دې سوچونه او فکرونه پناه ګير وي
تر هغې به خطره ستاسو احساس او د ضمير وي

نو راځئ

راځئ چې لته ورکړو نن ماسکو او واشنګټن ته
راځئ چې سره يو شو نن د دين اسلام دښمن ته
راځئ چې په کشمير کښې د مظلوم کړو اوښکې پاکې
راځئ چې د هندو په زړګي جوړې کړو تناکې
راځئ چې اسرائيل لره يو موټے او يو لاس شو
راځئ د فلسطين سره چې ورونړو په اخلاص شو
راځئ چې د کابل د يتيمانو مسيحا شو
راځئ چې ثمرقند او بخارا لره دوا شو
راځئ چې د نړۍ مسلمانانو سره ښکل کړو
راځئ چې سومنات او ليلن ګراډ په پښو کښې دل کړو
راځئ چې په فليپيئن کښې د غازيانو سره مل شو
راځئ چې په اوربل کښې د اسلام د ناوې ګل شو
راځئ چې پرکتيانو لره تندر د اسمان شو
راځئ چې د ابليس ملګري ختم کړو غازيان شو

راځـــئ چـــې د اســـلام دپـــاره وشـــيندو ســـرونه
راځـــئ پـــه وينـــه ســـرۀ چـــې د دښـــمن كـــړو سنگرونه
راځـــئ چـــې د اســـلافو شـــهيدانو روح خوشـــحال كـــړو
راځـــئ چـــې د باطـــل خـــلاف اوچـــت نـــن تُـــوره ډال كـــړو
راځـــئ كـــه امـــن غـــواړئ او د امـــن ملگرتيـــا كـــړئ
اســـلامي انقـــلاب لـــره ځانونـــه پـــه تابيـــا كـــړئ

❁❁

قطعه (حقيقت)

چـې مـې هـوش ومونـدو پـه منډه يـم خـولې خـولې يـم
زرې زرې مـې شـو وجـود خدا يـه زبېرگـي پـه خُلـۀ يـم

اميـد سـراب ؤ پـه سـفر كـښې د ژونـدون د منـزل
پـه انتهـا كـښې د لتـون بـس د مرگـي پـه خُلـۀ شـوم

❁❁

# ښائسته وطن

کوهاټ کښې مې زړګے دے په هنګو کښې مې ځیګر دے
هډونه مې د کُرمې دي تیراه مې د زړهٔ سر دے

خټک دي که بنګښ دي د شملې دي ولونه ولونه
وزیر که افریدي دي د اوربل دي سرهٔ ګلونه
که شال مې پېښور دے نو پټکے مې لوړ خیبر دے
هډونه مې د کُرمې دي تیراه مې د زړهٔ سر دے

د دیر د باجوړ د ملاکنډ دي لوړ سرونه
د سوات که د چترال که د بونیر دي ځنګلونه
مردان کښې مې دي سترګې په نوښار کښې مې نظر دے
هډونه مې د کُرمې دي تیراه مې د زړهٔ سر دے

مروت که بنوڅي دي یا غاړه د ګومل ده
څهٔ ښکلې هزاره ده ښکلا ئې ول په ول ده
مهمند مې واړه ورونه دي ښائست مې اشنغر دے
هډونه مې د کُرمې دي تیراه مې د زړهٔ سر دے

سندرې مې خورې دي په ملکونو او سیندونو
په لوړو لوړو غرونو په دشتونو چمنونو
دوبۍ کښې مې ملګري دي جانان مې په قطر دے
هډونه مې د کُرمې دي تیراه مې د زړۀ سر دے

کوهاټ کښې مې زړګے دے په هنګو کښې مې ځیګر دے
هډونه مې د کُرمې دي تیراه مې د زړۀ سر دے

❁❁

دوه شعرونه

زما دژوند لمحې تېرېږي د سور نمر غېږه کښې
زما د برخې زندګي وه د سفر غېږه کښې

د شپې په خوب کښې د جانان سره په کلي کښې ووم
خو چې بېدار شوم سحر پروت ووم د قطر غېږه کښې

❁❁

# خاوره پوښتنه کوي

بلبل په شين چمن کښې په نغمو سر په ګډا دے
بورا په هر يو ګل هره کلۍ باندې شيدا دے
طوطي په خپل بوستان کښې په ټوپونو په چغا دے
ګلاب څومره د لرې نه نسيم ته په خندا دے
پتنګ په خپله شمع د ازل راسې فدا دے
شاهين پاس په اسمان کښې د الوت په مشغولا دے
ځنګل کښې د وحدت په سر کښې هر مارغۀ ګويا دے
پېغام د ژوندانۀ په هر يو څيز کښې تجلا دے
قدرت په عشق کښې جذب دے عشق له کوم څيزه پېدا دے
د مينې او د امن ژوند کښې راز پروت د بقا دے
پوهېږې هغه خلق چې نظر په تېر ژوندون کړي
د حال په آئينو کښې چې کتل د سباوؤن کړي
خو تۀ ووايه دا چې تۀ د چا سره کړې مينه
مينه به څۀ وکړې چې دې وينه شوله سپينه
شيشه دې د زړګي توره خيرنه شوه زنګينه
چې نۀ شي شناخت پکښې د خپل پردي شيرينه
تاريخ به څنګه معاف کړي ستا د نن خطا سنګينه
تر څو به تويوې د خپلې مور د سينې وينه

غیرت ستا د اسلاف شوه د پرون قیصه پارینه
د نن په هنګامو شوې خبر که هر څهٔ درنه ځینه
چارهٔ دې د غرض شوه د ناموس په خون رنګینه
خبر شه ستا بچي به هم دا ستا په لاره وینه
وحشت او خونریزي کښې که ستا ګټه ستا عزت وي
مرګ ښهٔ دے ستا د ژونده ستا په ژوند دې تو لعنت وي
ما وپېژنه ګرانه ستا توته د شناخت یم
زهٔ فخر یم ستا شان یم ستا شمله یمه عزت یم
وطن یم ستا چمن یمه ستا خاوره یم جنت یم
لیلی یم محبوبه یمه ستا مینه محبت یم
امین ستا د اسلافو نګهبان ستا د عظمت یم
مورچه د استقلال یمه مېدان د شجاعت یم
ښکلا د رنګینو یمه شاهکار د لوئے قدرت یم
ارزو د اوسېدو یم تمنا د سکونت یم
تاریخ په خپل وجود کښې د وختونو شهادت یم
ستا نخښه د نیکونو یم ژوندے په خپل هئیت یم
پوښتنه کوم دا چې تهٔ له ما ولې نفرت کړې
دشمن د خپلې مور ئې د خپل کور نه بغاوت کړې

❁❁



Scanned by CamScanner

# د ېوالونه کړې خبرې

هغه راز چې بس زما او ستا تر مېنځ وو
يا چاپېره د ېوالونه ترې خبر وو

هغه راز جوړې د مينې پاتې نۀ شو
چنارونو کښې مرغان تول په چغار دي

داسې ښکارې ګواهي ته دي راغلي
د ېوالونه هم ولاړ دي غلي غلي

❀❀

قطعه

غريب سپک ښکاري په در د اميرانو
امير د روند ښکاري په در د غريبانو

پښتون ښۀ ښکاري چې خپله حجره پالي
نه چې ګرځي په کوڅو کښې د ډمانو

❀❀

## (د کونډو عالمي ورځ) International Widows Day

سر تـوره مـۀ شـه سـتا د کـور تـور سـرې
پـه ژونـد سـتي شـي سـم پـه اور تـور سـرې

دنیـــا ظالمـــه ده ځـــائې نـــۀ ورکـــوي
د چـا پـه کـور چې شي لُـور خـور تـور سـرې

اشـــرف بللـــے شـــي د زمکـــې انـــسان
ولـــې زمـــونږ شـــي د پېغـــور تـــور ســـرې

قـــدم ئـــې ښـــکل کـــړه جنتونـــه واخلـــه
تـــل پـــه دعـــا رنـــګ شـــه د مـــور تـــور ســـرې

❀❀



Scanned by CamScanner

# د نینزکو عالمي ورځ

د نینزکو ګوډاګو خپله دنیا ده
مشغولا ده بې ضرره مشغولا ده

د هر دور تاریخونو سره سمه
راروانه د نړۍ سره هم دا ده

هلکانو جینکو ته یو شان ښکلې
بازیګره بازیګره حیرانتیا ده

د یو څو شېبو دپاره غم غلط کړي
د نینزکو د فنکار دغه عطا ده

❁❁

# بُتکې

د پتـــې مېـــنځ کـــښې بُـــتکې یـــم
پـــه مـــا تـــول خلـــق خبـــر دي
چـــې زهٔ هـــیڅ کـــولې نـــهٔ شـــم
اوس لـــه هـــرې خـــوا تـــالان دے
حـــشرات دي کـــه پرنـــد دي
ښـــاروي دي کـــه درنـــد دي
خُلـــې ئـــې ډکـــې دي پـــه وینـــو
د خپـــل مـــور د تـــن پـــه غوښـــو
د خپـــل پـــلار هـــډوکي ژوئـــي
خدایـــه دا کـــوم شـــرمخان دي؟
خدایـــه دا کـــوم انـــسانان دي؟

❁❁

# د ځنګل قانون

(د زهره نګاه د نظم د پښتو ژباړه)

لویه خدایه د ځنګل قانون نافذ کړه
د ځنګل هم ځان له خپل قانون دستور وي
چې زمرے په خېټه موړ وي بلوڅه نۀ کړي
خواؤ شا ته ئې ازاد ځناور ګرځي
د اوبو دپاسه څانګه کښې د ونې
د مرغۍ بچوړي ځان له همسایه کړي
الوتونکي مهیان هیڅ نۀ وائي دوي ته
په سیلۍ کښې که د ونې ښاخ خوزېږي
مېنا خپله جاله پرېږدي زر په منډه
چې د جالې څخه لاندې ګزار نۀ شي
د کارغۀ د هګۍ خپل وزر ارتاؤ کړي
که د جالې د مرغۍ بچي غورځېږي

تـــول ځنګـــل ورســـره ويښ شـــي او چغېـــږي
کـه دريـاب کښې طغيـاني راشـي غړمبېږي
پـــه يـــوه تختـــه بيـــزه زمـــرے ودرېـــږي
دا قـانون چـې پـه ځنګـل کښې هـم چلېـږي
لويـــه خدايـــه ذوالجلالـــه پاکـــه ربـــه
دا زمـونږ پـه وطـن کـوم قـانون نافـذ دے؟
چـې انسان پکښې هېڅ ژونـد کـولے نـۀ شـي
نـور بـس دلتـه د ځنګـل قـانون نافـذ کـړه

❀❀



Scanned by CamScanner

# عالمي امداد باهمي ورځ

لاس په لاس کښې ورکول زندګاني ده
غور ځېدلې ودرول زندګاني ده

دا تيارې د ژوند جمود دے که پوهېږې
چراغونه بلول زندګاني ده

د ځنګل قانون که هر څومره بد رنګ دے
ښکلاګانې خورول زندګاني ده

ځان ځاني خو ورکېدل فنا کېدل دي
ځان په بل قربانول زندګاني ده

فېروز وائي د هر چا ښېګړه غواړه
د يو بله ځارېدل زندګاني ده

❁❁



Scanned by CamScanner

# د عالمي بهبود آبادۍ ورځ

دنیـــا شـــوه تنګـــه خلـــق ډېرېـــږي
ژونـــد شـــو بدرنګـــه خلـــق ډېرېـــږي

ســاه ګــانې ډوبــې رنځونــه ډېــر شــو
ښــکلا شـــوه زنګـــه خلـــق ډېرېـــږي

پــه دې هجــوم کــښې ګــزران نــۀ کېــږي
مــاحول بـــې ډنګـــه خلـــق ډېرېـــږي

ابـــادي کمـــه ســـبزه کـــږه ډېـــره
ګنـــې شـــوه ړنګـــه خلـــق ډېرېـــږي

چــې ســاده نــۀ شــي ژونــد دې فېــروزه
تېـــر بـــه شـــي څنګـــه؟ خلـــق ډېرېـــږي

❀❀



Scanned by CamScanner

# د وطن باشعوره پېغله

رابـه شـي بـدلون پـه ژوندانـهٔ کښې د پښتون
پېغلـه د وطــن بـه راولــي پکـښې ســمون
پاســه پــښتنې شــمع د علــم کــړه روښــانه
لــرې کــړه د جهــل دا تيــارې د خپلــه ځانــه
رابـه شـي بـدلون پـه ژوندانـهٔ کښې د پښتون

ورانــه شــوه دنيــا د پښتنو پــه جنــګ فــساد
ګرانــه ده چــې ووينــو دا خپــل وطــن ابــاد
خپـل بچـي تـه مـهٔ ښـايه د تېـر تـاريخ افـسون
رابـه شـي بـدلون پـه ژوندانـهٔ کښې د پښتون

نــهٔ شــوه د زلمــو پُــښتنې وکــړه لــږ همــت
ځان په نور ښائسته کړه نور لرې ځان له طاقت
هـر څـهٔ بـه بـدل شي کـه بـدل شي ستا ژونـدون
رابـه شـي بـدلون پـه ژوندانـهٔ کښې د پښتون

❀❀

نوټ: د هندي نژاد سندرغاړې مېرمن شارون اوسر په فرمائش ليکلې سندره کومه چې هغې د راشد يوسفزي په موسيقۍ کښې وئيلې ده.



Scanned by CamScanner

# د حیرت باغ

د حیــرت بــاغ تــه مــې پرېــږده
چــې ســېلونه پکــښې وکــړم
پهرېــدارو تــه دې وایــه
چــې زمــونږ روحونــه پــاک دي
بــې غرضــه بــې ضــرره
نــه مېــوؤ تــه ئــې حاجــت شــته
نــهٔ د څــانګو مــاتول کــړي
نــهٔ کــرل کــړي نــهٔ رېبــل کــړي
د حیــرت د بــاغ څــارل کــړي
نظــاره د چاپېرچــل کــړي
صــفتونه کــړي ســتائېل کــړي
د حیــرت بــاغ تــه مــې پرېــږده
چــې ســېلونه پکــښې وکــړم

❀❀



Scanned by CamScanner

# تلاش

نه لیدلے شي په سترګو
نه په غوږو اورېدے شي
نه په لمس ئې زه پوهېږم
نه وږمه کښې یا نګهت کښې
په لذت کښې محسوسېږي
په پنځو واړو حواسو
ما لا نه ؤ پېژندلے
خو د زړه درزا مې وائي
چې په چا پسې زه ګرځم
هغه زړه کښې مې موجود دے
چې په هر ځائے کښې وسېږي
هم هغه زما معبود دے



Scanned by CamScanner

# زۀ او رقيب

زۀ هم وايمه چې تۀ ئې
رقيب هم وائي چې ښۀ ئې
د ګوګل دننه زړۀ ئې
او د زړۀ د وتو نۀ ئې

دواړه تا غواړو دلبره
دواړه ستا په يوۀ خبره
دواړه ستا په يوۀ نظره
له تا نۀ يُو بې خبره

دواړه ستا په لور روان يُو
دواړه ستا په نوم قربان يُو
بيا نو زۀ او رقيب ولې
يو او بل نه بدګمان يُو؟

# افغان ملګریه

د وخت سپېرې سپېرې ووهلې بې شان ملګریه
ډېر زیات خفه یم ستا په حال باندې افغان ملګریه

چا ظالمانو کړې بې کوره بې سامان ملګریه
بدئې په زمکه راګوزار کړې له اسمان ملګریه
د چا د بدو نظر ښکار شولې سلطان ملګریه
ډېر زیات خفه یم ستا په حال باندې افغان ملګریه

لکه د باز او د باټور په شان ازاد مارغهٔ وې
نهٔ په قفس کښې بندیوان نهٔ د صیاد مارغهٔ وې
ستا د نغمو په ترنم چې به هر وخت نازېدو
تهٔ د هغهٔ شینکي چمن ښکلے یو ښاد مارغهٔ وې
کور کلے پاتې شو نصیب دې بیان ملګریه
ډېر زیات خفه یم ستا په حال باندې افغان ملګریه

تا د دنیا ژوندي قامونو کښې عزت لرلو
د فاتحینو په تاریخ کښې دې عظمت لرلو
ؤ په مزاج کښې استقلال سر دې اوچت لرلو

په دغه وجه تا په غېرو کښې عزت لرلو
ۀ د غليم لښکر ته بس ګوښې يو ځوان ملګريه
ډېر زيات خفه يم ستا په حال باندې افغان ملګريه

تۀ د لغمان، لوګر مېدان او د کابل د سيمې
تۀ د پکتيا غزنې قندهار او د زابل د سيمې
تۀ د هرات مزار کندوس او بدخشان د سيمې
تۀ يو افغان وې که هر څو د چاپېرچل د سيمې
داسې تس نس نۀ وې هېڅ کله په جهان ملګريه
ډېر زيات خفه يم ستا په حال باندې افغان ملګريه

ستا د محمود د مېړنتوب دنياګۍ ورانه شوله
د ابدالي د سرېتوب دنياګۍ ورانه شوله
د مير ويس خان او ملالۍ د سترګو تور وطنه
د پښتنو د ښۀ ځوانتوب دنياګۍ ورانه شوله
اوس به کوې په خپل وطن پسې ارمان ملګريه
ډېر زيات خفه يم ستا په حال باندې افغان ملګريه

دا څۀ چې وشو ځکه وشو چې غافل شولې تۀ
د ستا په وينه کښې سستي راغله کاهل شولې تۀ
عېش و عشرت ته شوې نږدې سترګې دې پټې کړلې

دنيا وه مخ په ترقۍ پاتې جاهل شولې ته
ځکه په ملک باندې قابض شو خارجيان ملګريه
ډېر زيات خفه يم ستا په حال باندې افغان ملګريه

دا ستا بچو ته نن نړۍ کښې هر بشر ژړېږي
د پښتونخوا هره دره او هر يو غر ژړېږي
که پېښور اټک کوهاټ يا ملاکنډ هزاره
د زمانې تاريخ ساتونکے لوئے خيبر ژاړي
اوښکې د هر چا راڅڅېږي په ګرېوان ملګريه
ډېر زيات خفه يم ستا په حال باندې افغان ملګريه

❀❀

(د ثور انقلاب ۷ کاله وروستو ليکلے شوے نظم ۱۹۸۵ء)

# سانده

تــهٔ چــې زمانــه فرمــائش د څــو غزلــو کــوې
او د جانــان پــه ســرو لبــانو څــو شــعرونه غــواړې
تــا تــه معلومــه ده چــې مــونږ کــره خــو مــړې شــوي
زمــونږ کورونــه پــه بمونــو او پــه اور ســوي دي
زمــونږه مــړي هــم پــه قبــر کــښې چــا پرېــښې نــهٔ دي
زمــونږ پتــو کــښې اوس مــورچې اوخند قونــه جــوړ دي
زمــونږ تويونــو کــښې اوبــو د وینــو رنــګ اخــستے
زمــونږ کــوهي هــم د بــې ســره مــړو ډک پراتــهٔ دي
زمــونږ بچــي پــه خپــل وطــن کــښې وږي تــږي ګرځــي
پــه خپلــه خــاوره مهــاجر دي پــه خېمــو کــښې اوســي
لــوڅ ســر پــښې ابلــه در پــه در ګرځــي خېــرات غــواړي
زمــونږ تورســرې پــه امــداد پــسې اوس منــډې وهــي
یــو خــوا د لــوږې مــري او بــل خــوا نامعلومــه دښــمن
د ګلالــــو بچــــو ســــرونه پــــه چــــړو غوڅــــوي
د ډار وېــرې او هزیــان پــه داســې حــال کــښې اوســي
چــې نــهٔ ژړلے شــي او نــهٔ ئــې د خُلــې کــوکې ووځــي
ســترګې ئــې بقــې راوتلــي دي یــو بــل تــه ګــوري
نــهٔ چرتــه تللے شــي او نــهٔ چاتــه فریــاد کــوے شــي

نۀ شي څوک درس وئېلے نۀ څوک ښونځي پېژني
خدائے زده چې څۀ رنګه ژوندي دي دغه پاتې خلق
څوک رنځوران ډېر لېوني دي دغه پاتې خلق
د دوي په مخ باندې سرخي نشته او نور نشته
خرې پرې مخونه زندګي نشته غرور نشته
نو زما ګرانه تۀ په خپله په دې ښۀ پوهېږې
چې مسافر او مهاجر شاعر به څۀ ووائي
پس له ژړا او ساندو نور څۀ راته پاتې نۀ دي
زما د سترګو نه د اوښکو په ځائے وينې څاځي
په نامعلومه ګناه ژاړمه او ساندې وايم
تاته به څنګه يا قربان او يکه ځار وکړمه

❁❁

# د وطن د ښامارانو نه يو سوال

د اژدهې په څير په خُلهٔ کښې اور پالونکو خلقو
وطن مو ولې لولپه او سرې لمبې لمبې کړو
په کوم سبب مو وران ويجاړ کړو زمونږ ښکلے وطن
اے خون خورو وطن فروشو مذهبي غلاګرو
چا درته دا وطن په مالِ غنيمت درکړے
چې په خراج کښې اوس د خوار اولس سرونه وهئ
اے شر پسندو په وطن باندې قابض وحشيانو
مونږ مسافر درنه د خپل وطن پوښتنه کوو
تاسو په کوم قانون د روغ وطن دا حال کړے دے
چې د شيطان په لاس بيعت مو د دجال کړے دے
خيانت ګرو غدارانو د وطن دښمنو
د مسافرو کونډو رنډو يتيمانو برخه
د خپل هوس او د حرص په تور ښامار خوړلې
تاسو د خپلو وروڼو خاوره په اغيار خوړلې
مونږ چې وطن درته پرېښنو نو داسې حال خو نهٔ ؤ
هر خواته امن ؤ وطن کښې سوکالي ډېره وه
شنهٔ پټي ښکلي چمنونه درياب‌ونه دشتې
په غر او سمه کښې د شنو باغونو شنې ځنګلې

د لوړو غرونو سپينې سپينې دا واورينې څوکې
خوشبويو ډکې ميوه دارې ګل ورينې درې
مونږ بدنصيبو نه شو پاتې دا جنت د وطن
هر څۀ مو تاسو ته شو پاتې امانت د وطن
مونږ درنه لاړو د نيستۍ د غوځېدو دپاره
چې د پردي وطن نه تاسو له ډالرې راوړو
لوږې وهلو تندې غرو ته خو څۀ وګټو
چې د بې وسو غم زيلو څۀ ګزران پرې وشي
دا مو ارمان ؤ چې وطن به ځان له ښکلے جوړ کړو
يو څو به ځان له کوټنۍ چرته پخې جوړې کړو
کوټنۍ څۀ چې اوس د خاورو بوسارې هم نشته
د لوږو تندو سره مخ په خپل وطن بې کوره
بچي مو ګرځي بې درکه ابلې پښې سر توره
مونږ د کلونو نه راورک د خپل وطن نه لرې
مسافران د خپل وطن په حال غمجن ژړېږو
نور د وطن د خوشحالو راسره څۀ پاتې شو
ډېر د مودو مودو خوبونه مو ويده پاتې شو
ډېر اميدونه ارمانونه مو په زړۀ پاتې شو

❁❁

# برېښ واش

اے د دور پـــــــلاره
د مدرســـــې اســـتاذه
او د ملـــــت رهبـــــره
وايــه پــه څـۀ ګـنګس ئـې
شـپاړس کلـن بچـے دې
ســـتا د غفلـــت د لاســه
چـــا نامعلومـــه خلقـــو
پـــه چـــل هنـــر او فکـــر
لــه تـــا نــه پــټ جــدا کــړو
د بابـــــا ادم د وختـــــو
پخـــې ريـــښې د وينـــې
د شـــــعورې ارتقـــــاء
د علـــم پـــوهې زد کـــړې
د ژونـــد او ژواک مراســـم
د امنيـــت خـــوږ احـــساس
د وطـــن مينـــه غيـــرت
لوئے ستر مينار راړنګ شو
درنــه بــاغي پــه څنــګ شــو

شک پکښې پاتې نهٔ شو
چې تاسو درې مشرانو
خپله روحي وظيفه
تر سره کړې نهٔ ده
اوس د پلار خوږ شفقت
د ګران استاذ تربيت
د قوم ملي وحدانيت
يو وران کنډر پاتې دے
خوشے اثر پاتې دے
په دې خبر شه پلاره
د مدرسې استاذه
او د ملت رهبره
چې د لاسونو وتے
ستا ګلالوټے بچے
ټوپک په لاس راپورته
بم په سينه تړلے
جېکټ د ځان تاؤ کړے
نهٔ اوس په ځان ايسار دے
او نهٔ د ستا په مرګې
چرته ئې غم او کار دے

❁❁



Scanned by CamScanner

# د ساحر لدهیانوي د نظم په تاثر کښې

معززو شریفانو انسانانو
وینه خپله که د بل بدن څڅېږي
د ادم د نسل وینه ده بهېږي
جنګ خو جنګ وي که په شرق وي که په غرب وي
د دنیا د خلقو وینه به توئېږي
بم په کور که په سرحد باندې غورځېږي
سل کورنه د روحونو پرې ورانېږي
په اور خپل که د بل چا پټې سوزېږي
لوږې تندې به په هر لوري زیاتېږي
دا ټینکونه چې په وړاندې وروستو کېږي
د وطن زمکې په شاړو کښې بدلېږي
څوک سندرې د برې وائي څوک ساندې
ژوند په مړو باندې ویر کوي ژړېږي
جنګ پخپله یوه لویه مسئله ده
په جنګونو مسئلې نهٔ هوارېږي
اور او وینه به څهٔ درکړي انسانانو
محتاجي او لوږه نوره سېوا کېږي
معززو شریفانو انسانانو

جنګ به نه کړو جنګ کښې هر څه تباه کيږي
چې رڼا زما او ستا په کور کښې راشي
دا د امن شمع پريږدئ چې بليږي
د خپل ځان د زبادولو په خاطر نن
ضروري نه ده انسان چې دې قتليږي
که د کور تورو تيارو له رڼا غواړئ
ضروري نه ده چې کور دې لمبه کيږي
جنګ په نورو سنګرونو هم کول شي
ضروري نه ده چې وينه دې توئيږي
د ژوندون په مخ د عقل سترګې هم شته
ليونتوب دے پکښې هر وخت نه غړيږي
راشئ ورکې دا تيارې د بدبختئ کړئ
مشالونه د فکرونو دې بليږي
ځئ چې جنګ وکړو د هغه بلاګانو
چې د امن د کاروان مخې ته کيږي
جنګ د داسې تفرقو سره چې وکړو
په دا کار به امن نور هم سيوا کيږي
چې وحشت او بربريت سره جنګ وکړو
چې په دې به د تهذيب لمن پلنيږي
جنګ دې وشي د مرګي د سياست سره
د انسان بقا د امن په سر کيږي

جنګ د لوږې غریبۍ سره دې وشي
چې د ژوند د خوږو خوند پرې سېوا کېږي
د بې لارې واکدارانو جنګ پکار دے
چې په دې پرې د بې وسو ځان خلاصېږي
جنګ دې وشي د زردارو ستمګرو
چې انسان د غلامۍ نه ازاد ېږي
جنګ د امن فلسفې سره دې وشي
چې د امن د خیالاتو په ضد کېږي
ځئ چې داسې دنیا جوړه کړو د مینې
چې د امن فرشتې پکښې اوسېږي

❁❁



Scanned by CamScanner

# زمونږه هم يو كوركےۀ وران شو

ما د يو څو ورځو نه غلي ويني
زما بچي ما سره هم غلي دي
كله په ډار ډار كښې پوښتنه وكړي
بابا زمونږ كور به وي چا وران كړے؟
بد خو د چا سره نۀ مونږ كړي دي
او نه تر اوسه پورې تا چا سره
تشې د خُلې بدې خبرې كړي؟
زۀ خپلو دې بچو ته څۀ اووايم؟
څوك چې زما سره پردي وطن كښې
مسافري كوي او نۀ دي خبر
چې د شيطان او د رحمان په مينځ كښې
دا څۀ د نن ورځې قيصه خو نۀ ده
بيا يو وړوكے مانه دا وپوښتي
چې مونږ خو هم اوسو پردي وطن كښې



Scanned by CamScanner

دلته مو هم چرته خپل کور نشته دے
او په وطن کښې مو هم کور وران شوے
مونږ به د چا ځائے کښې بابا اوسېږو؟
زۀ ورته ورو غونډې غریو جن غونډې شم
ورته ورې ورې خبرې کوم
چې د حلالو په خولَو جوړ شوے
زما دا کور نۀ قدرتي افاتو
نۀ د ځنګل چرته ښاروي ځناور
نۀ د الله هغه معصومو خلقو
چې ئې زما په شان کورونه وران دي
نۀ څوک هغه چې د الله ډار بېږي
نۀ څوک هغه چې څوک په هوش کښې ګرځي
په هېڅ يو ډول ئې کولے نۀ شي
څوک هم زما کور ورانولے نۀ شي
دا خو د مستو او مدهوشه خلقو
چې نۀ الله او نۀ رسول پېژني
نۀ د انسان نۀ د مخلوق په ګټه
په زړۀ کښې سوچ د خېر ښېګړې لري



Scanned by CamScanner

بس د هغو خلقو به نۀ خوښېدو
چا سره مونږه چې د شر په كار كښې
لاس او امداد او ملاتړ كړے وے
يا مو ستائېلے وے د دوي كارونه
بس د رحمان او د شېطان په مېنځ كښې
په دغه خاوره يو غوبل جوړ شوے
پكښې د خلقو روغ روغ كلي وران شول
نن پكښې مونږه هم راغلي دل شو
زمونږه هم يو كور كے ؤ وران شو

❀❀



Scanned by CamScanner

# يوويشتمه پېړۍ

دا يوويشتمه پېړۍ
دا د علومو بهير
دا سائنسي ايجادات
دغه هنر او پوهه
په هر څۀ پوهه انسان
بيا هم حېران پرېشان
بيا هم په هر څۀ کښې ګېر
بيا هم په ستونزو کښې ښکيل
وتل ترې ډېر دي مشکل
يو خوا رڼا او دا نور
بل خوا تيارو کښې مزل
يو خوا قانون او دستور
بل خوا دا ژوند هم ناسور
دا ارتقاءد ژوندون
پکښې انسان دے مغموم
يو خوا په ستورو کمان
بل خوا دے څومره ستومان
ژوند پکښې نۀ شو مضمون

فېروز خان اپريدے

نــو بيـــا دا ولـــې ربــه
تـــل نـــامراد و ناكـــام
پـــه دې خبـــره انـــسان
چـــې د الله نـــه بېـــزار
پـه نفـس ئـې نـشته اختيـار
د خيــر و شــر نــه انكــار
پـــه وسوســو شـــو بيمــار
گرځـــي بــه تــل ســرگردان
دغـــه بـــې لارې انـــسان

❀❀



Scanned by CamScanner

## پښتنه خودکشه پېغله

زمــا خــورې زمــا لُــورې
ځــواني مرګــې او مجبــورې

هغــه کومــه داســې ګتــه
یــا تــاوان نــه ځــان ژغــورل وو
یــا جنــت چرتــه ګتــل وو
چــې دې ځــان تــوتې تــوتې کــړو
زمــا خــورې زمــا لُــورې
ځــواني مرګــې او مجبــورې

مــا لــه دومــره جــواب راکــړه
چــې تــا ولــې داســې وکــړل
هغــه کــوم داســې حــالات وو
داســې کومــه مجبــوري وه

يا حرص ؤ که هوس ؤ
که د چا ظالم د لاسه
خپل ناموس ؤ تا بائيللے
يا بدل د چا د ظلم
پر بېښودل درته پېغور ؤ
يا د دين فرقې د پاره
ځان وژل په تا يو پور ؤ
زما خورې زما لُورې
ځواني مرګې او مجبورې

تا خو سترګې کړلې پټې
خو زما سترګې شوې ټيټې
په بېديا باندې بربنډ پروت
ستا ټوټې ټوټې وجود دے
اندامونه دې ښکاره دي
د وجود پرده دې نشته
د حيا سَتَر دې مات دے
ګل وجود دې سخا نالې کښې

وارث نه لري ميرات دے
تول مخلوق دې تماشه کړي
په اخبار کښې هم راغلے
بې حجابه ستا تصوير دے
افغانۍ خودکشه پښغله
ليک ترې لاندې دا تحرير دے
زما خورې زما لُورې
ځواني مرګې او مجبورې

❁❁



Scanned by CamScanner

# د ایمل خان کاسي د مړینې په موقع یو نظم

ایمل خانه سر دې وګټو مړ نهٔ ئې
ځان نه مخکښې د ابلیس زامن دې مړهٔ کړل
او په مخه روغ رمت ترې نه راستون شوې
خو د کور دروازې بندې وې بیا ستون شوې
ایمل خانه شیطانان بلها ډېر زیات دي
په نړۍ کښې بې حسابه زورور دي
مخلوقات د دوي له جوره زبر زبر دي
د وګړي په رګونو کښې په زغل دي
په شعور او لاشعور باندې قابض دي
ایمل خانه پښتانهٔ چې تُوره واخلي
هله کښېني چې غلیم خاورو ته بوځي
ستر پښتونه تا دښمن له شکست ورکړو
او قیصه د ایمل خان دې راتازه کړه

چـا مغـل چـې پـه خیبـر کـښې ؤ وهلـې
سـتر خوشـحال چـې پـه اشـعارو ؤ نمـانځلې
ایمـل خانـه د میـر ویـس نیکـهٔ ننګیالـه
د احمـد بابـا هـم روح درنـه خوشـحال شـو
د شـېر خـان* د وینـو رنـګ نـور هـم تـازه شـو
د عمـر** د تُـورې شـرنګ نـور پـه غـورځنګ شـو
سـر دې وشـیندهٔ پـښتون دې ژنـده بـاد کـړو
د فېـروز د شـعر وران کـور دې ابـاد کـړو

❀❀

• کرنل شېر خان شهید
•• مُلا عمر

# د مور د ورځې په مناسبت

((زما مور د حج د مراسمو وروستو د جدې په هوائي ډګر د زړۀ د ناروغۍ له کبله په حق ورسېده او په خانه کعبه کښې د جنازې وروستو مو د مکې په الشرائع مقبره کښې په ۲۸ فروري ۲۰۰۳ء خاورو ته وسپارله. د وفات کېدو لږه شېبه مخکښې ئې ما سره په ټيليفون خبرې وکړې او د زړۀ د ناروغۍ او اضطراري کېفيت ئې راته بيان کړو. "الله دې زما مور وبخښي آمين")).

مور مې اووئېل زما زويه
زړۀ مې ډېر ځله ډوبېږي
نۀ پوهېږم چې دا ولې
ما وئېل چې خدائے به خېر کړي
بس يو څو ګړهۍ دي پاتې
زر به ورسېږې کور ته
خدائے خو ډېر لوئے مهربان دے

ستا لېدل مې لوئې ارمان دے
بيا ناڅاپه خبر راغے
چې ستا مور خو لاړه مړه شوه
پس د حج له مراسمو
په مېدان د الوتكو
چې اعلان د تللو وشو
زما مور سر په سجده شوه
هم په هغه ځائے كښې مړه شوه

❁❁

## درې شعرونه

پښتو ژبه كه هر څو خوږه پسته ده
پكښې نۀ كوي اوس څوك خوږې خبرې

ما شعرونه پكښې وليكل فيروزه
چې ترخې كړمه بدلې په شكرې

خپله ژبه هم قلعه ده هم بلا ده
د خوشحال د خُلې وتلې ملغلرې

❁❁



Scanned by CamScanner

# لکه راشي زلزله

د مودو راسې زما د زړۀ په کور کښې
مجسمه زما د خيال او تصور وې
تۀ ښکلا زما د ژوند د هر يو اړخ وې
او زما د ارمانونو دنياګۍ وې
ما تکل د هر مزل په دې نيت کړے
چې منزل کښې به مې ستا قربت نصيب شي
بيا به ټوله ستوماني زما شي ورکه
تۀ سينې ته چې په غړانګو غړانګو راشې
نوا ے زما د خيال نازکې نازنينې
تۀ رانغلې په ما بدې کانې وشوې
سخت وجود ۇ زما داسې په لړزان شو
لکه راشي زلزله په لويو غرونو
لکه ګېرې قافلې کړي طوفانونه
لکه وشلېږي سيلۍ کښې تناوۀنه

❀❀



Scanned by CamScanner

# سیاره ملاله

(ناسا امریکائي خلائي اداري د نوې دریافت شوې سیارې نوم ملالې یوسفزۍ ته منسوب کړو)

څـــوک ســـجدې د نمـــر پـــه لـــوري کـــوي
ډېر د سپوږمۍ په تک سپین مخ مئین دي
څـــوک د زهـــرا د جبـــین خـــال یـــادوي
څـــوک د رنګـــین کهکـــشان جـــال یـــادوي
د چـــا خوبونـــه تـــر مـــریخ مـــشتري
د چـــا ارمـــان وي تـــر اســـمانه پـــورې
زهٔ د ملالـــې د نـــامې نـــه قربـــان
چـــا چـــې زمـــا نـــوم د نـــړۍ پـــه افـــق
د کائنـــات پـــه وســـعتونو خـــور کـــړو

❁❁



Scanned by CamScanner

## خاوره

خپلې خاورې ته کچه یم
نه مې ښکل کړله په مینه

نه مې مشکو په شان بوئي کړه
نه مې سترګو ته رانجه کړه

شرمنده یم شرمنده یم
خپلې خاورې ته کچه یم

❀❀



Scanned by CamScanner

## نظم

د مودو راسې زما د وطن پېغلې
په زندان د جهالت کښې رالوېږې
د څاروؤ په شان په يو او بل خرڅېږي
که يوه نيمه ملاله راپېدا شي
شيخ په دې باندې لوخړه لمبه کېږي
خان مې هم په دې خبره خفه کېږي
ځوان مې هم دا بغاوت ګڼي د ښځو
چې دا پېغله علم زده کړي ګويا کېږي
کور غوجلې به بيا څنګه صفا کېږي

نو

اے د جهل پلويانو لږ سوچ وکړئ
چې دا پوهه خو د هيچا ميراث نۀ ده
په هر نر او ښځه دواړو علم فرض دے

❁❁



Scanned by CamScanner

## زۀ څۀ خبر وومه وړې محبوبې

په لېوني زۀ خو خبر نۀ وومه
چې تۀ ربښتيا ما سره مينه کوې
ما نۀ ګڼله چې په نۀ ليدو کښې
تۀ به د عشق قيصه سنګينه کوې
ستا به وو هر د ورځ جنګونه ګرانې
په دې اظهار د مينې څۀ پوهېدم
خدائے زده چې نۀ پوهېدم نۀ پوهېدم
تۀ لکه مسته غرئيزه پېغله
د محبت اظهار جنګونه وو ستا
کله ملګرې کله نه ملګرې
بس عجيبه غوندې کارونه وو ستا
پس له څۀ وخته چې زۀ ؤپوهېدم
حېران په دې خبره ډېر شومه زۀ
ماته د خپل ماحول نه يره وشوه
خدايه په کوم غم کښې راګېر شومه زۀ

چې څهٔ به کېږي زما پاکه خدایه
دغه معصومه جینۍ څهٔ پوهېږي
زمونږ عمرونه خو ډېر کم و زیات دي
هغه په دې خبره نهٔ پوهېږي
هغه تنکۍ ده زما عمر تېر دے
د ژوند رنګونه ئې لیدلي نهٔ دي
ما خو د عمر ډېر تراخهٔ خوړلي
هغې د ژوند خوارهٔ څکلي نهٔ دي
ما ورته ډېر په یره یره ووې
زما او ستا یوځائے کېدل به ګران وي
د ګلو څانګې زهٔ کیکر د صحرا
په دغه عمر کښې هر څوک نادان وي
زهٔ ستا په هېڅ صورت لائق نهٔ یمه
ځان ته بل وګوره د ژوند ملګرے
هغه په دې خبره وژړېده
چې بس هم تهٔ مې ئې د خوند ملګرے
سلګۍ ئې ورو ورو ډوبې ډوبې شولې
دومره ئې ووې چې اوس څهٔ وکړمه

نورې خبرې ئې کولې نۀ شوې
نۀ منې زړۀ مې په زړۀ څۀ وکړمه
بيا څو لحظې وه داسې غلې غوندې
بيا ئې زما نه دا وعده واخسته
څۀ عجيبه وه تقاضه د هغې
زړۀ مې په دې غتمه صدمه واخسته
زۀ دلته نور ژوندون کولې نۀ شم
د اخري خواهش اظهار کوومه
که تۀ په دې دنيا کښې نۀ شوې زما
زۀ به دې هلته انتظار کوومه

❁❁

## تقدیرونه تدبیرونه

د قدرت عجب قانون دے
بې عنوانه شان مضمون دے
هېڅ یو کس پرې خبر نۀ دے
چې سمون که ناسمون دے
کله کله داسې وشي
په تدبیر کارونه نۀ شي
په تقدیر کارونه ښۀ شي
څوک پوهېږي نه چې څۀ شي
داسې هم شي کله کله
په خورو تورو تیارو کښې
د امید ډیوه شي بله
نۀ پوهېږي چې دا څله
کله کله بیا جونګړه
د محل د سړي کور شي
کله کله په محل کښې
سم حالات سړي ته اور شي
کله کله داسې هم شي
څوک ناڅاپه راڅرګند شي

په مرده زړهٔ کښې د مينې
حرارت د نوي ژوند شي
هم سپوږمۍ شي مروره
هم ترې لاړ شي زوږ او شور
دې ته څهٔ ووايم خدايه
د فلک ستم او جور
که تقسيم د قسمتونو
د انسان نهٔ رسي زور
تدبيرونه تقديرونه
د انسان تش ارمانونه
نور دې نهٔ ويني خوبونه

❀❀



Scanned by CamScanner

# انسان او شیطان

د انسان دغه قیصه ده
چې د خاورو پیدا شوے
شي به خاورو سره خاورې
د شیطان دغه قیصه ده
چې د اوره پیدا شوے
تل په اور کښې به پائیږي
د انسان ژوندون په خاوره
انس د خاورې عبارت
هر انسان په خاوره پائي
خاوره مور ده هم جنت
خاوره کور د پناه ځائے
خاوره شان دے هم شوکت
د شیطان کارونه ګوره
تل ملګرے وي د بد
د انسان سره په جنګ
تباهي ئې غټ مقصد
رغول د خاورې کار دے
سوزول د اور فطرت



Scanned by CamScanner

څوک چې بولي ځان له خاورې
تـل بـه ومـومي عظمـت
څوک چې ځان ګڼي لـه اوره
مقــدر ئـې دے ذلـت
اے د زمکــې انـسانانو
تاســو وکـړو عبـادت
پـه دنيـا بـه هـم راحـت وي
پـس لـه مرګـه بـه جنـت
اے د اور پيـدا شـيطانه
تـا خـو کـړے بغـاوت
څـوک چې تـا سره ملګـري
ګرځـي تـل بـه پـه اور سـوي
پـه دنيـا بـه هـم ذليـل وي
او رسـوا پـه اخـرت

❀❀

❁❁

د حیرت په باغ کښې ګرځم
د حیرت ګوته په خُلهٔ یم
هسې نه چې لېونے شم
یا دا سترګې مې ړندې شي
خدایه ستا مدد به غواړم
خدایه تاته په سجده یم
تماشې او پلوشې دي
هر طرف ته ننداريِ دي
هر طرف جلوې جلوې دي
ستا دا لوئے کرم په ما دے
چې جلوې مې د جانان دي
چرته زهٔ او چرته دومره؟
پېزوئنې د سبحان دي

❁❁



Scanned by CamScanner

## يو منزل

لاروي د يـــــــوې لارې
غرضـــــي د يـــو منـــزل

تمنـــا د ښـــکلي يـــار
او رضـــا د خـــوږ دلـــدار

اخـــتلاف د فکـــر نـــشته
بيـا پـه څـۀ شـي بانـدې وران

راکـــــوه رقيبـــــه لاس
پـــه خـــاطر د خپـــل جانـــان

❀❀



Scanned by CamScanner

## رسوائي

څـــهٔ عجبـــه وسوســـه ده
زړهٔ مـــې هـــم ډک د وهمونـــو

ســـوچ او فکـــر هـــم مفلوجـــه
وجـــود ســـتړے لکـــه مړے

بېګانــــــه د ګېرچـــــاپېره
خپـــل پـــردي هـــم بدګمانـــه

تـــهٔ میراتـــه شـــې اے مینـــې
زهٔ دې ډېـــر کړمـــه ســـتومانه

پـــه دنیـــا دې هـــم رســـوا کـــړم
عاقبـــت تـــه هـــم پرېـــشانه

توبـــه ګـــار شـــومه د مینـــې
توبـــه ګـــار شـــوم د جانانـــه

❁❁



Scanned by CamScanner

شعري خاکې

## محمد شیر افریدے (مشر ځوئے)

په صورت باندې غټ پټ خوش شکله ډیر دے
پـه مـزاج کـښې عـاجزي پـه زړۀ دلیـر دے

ښـۀ اخـلاق لـري بـې حـده ښـۀ سـړے دے
لنډ خوئي چې پکښې نۀ وي نو بیا شیر دے

❀❀



Scanned by CamScanner

# بختيار علي خان افريدے (زما دوېم ځوئے)

په ځوانۍ باندې ئې خور ښائسته بهار دے
عقل فکر او شعور لري بېدار دے

ښۀ اخلاق ښائسته جوثه ډېر نرم زړۀ دے
په رښتيا باندې بختيار زما بختيار دے

په تکل کښې د روښانه سباوون دے
په سفر کښې د اوږدو لارو په لار دے

په خپل دين پښتو ښۀ کلک دے ښۀ صالحه
په يورپ او امريکه کښې هم ديندار دے

بس هر چا لره ښۀ درد لري په زړۀ کښې
بې غرضه بې لالچه نيکو کار دے

❁❁



Scanned by CamScanner